# پښتو ځوارلس سوه کاله پخوا

لیکوال

اروانښاد علامه عبدالحی حبیبي

Ketabton.com

**د کتاب ځانګړنې:**

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | **پښتو خوارلس سوه کاله پخوا** |
| لیکوال: | علامه عبدالحی حبیبي |
| د خپرونو لړ: | (۴) |
| چاپکال: | ۲۰۰۵م |
| چاپ ځای: | یونایټیډ پریس، کوټه |
| کمپوز، ډیزاین: | د پښتو ادبي غورځنګ اداره |
| خپرندوی: | **پښتو ادبي غورځنګ کوټه** |


# تړون

د مطیع الله روهیال په نوم چې د لوی استاد علامه عبدالحی حبیبي په سلګونو مقالې راټولې کړې او دهغه جملې څخه یې په لسګونو مقالو ته کتابي بڼه ورکړې ده.

# د سریزې پر ځای

د پښتو اکاډمۍ پېښور مجله "پښتو" پخوانۍ ګڼې چې د لوی استاد اروابناد پوهاند علامه عبدالحي حبیبي یوه اوږده علمي او څېړنیزه مقاله د پښتو ادب یو ورک څپرکی (پښتو خوارلس سوه کاله پخوا) تر سرلیک لاندې پکښې چاپ شوې وه، په لاس راغلې، ځنګه چې مې دغه مجلې سره واړولې او د مقالې ځینې برخې مې ولوستلې نو د هغو څو کرښو لوستلو دې ته وهڅولم چې دغې ارزښتناکې مقالې ته باید کتابي بڼه ورکړم.

د لوی استاد دا علمي او څېړنیزه مقاله د نوموړې اکاډمیک مرکز په خپرېدونکې درې میاشتنۍ "پښتو" مجله کښې په لومړي ځل د ۱۹۶۰م کال د جنوري-دسمبر په ګڼه کښې پر یوه ځای د مجلې د لسم مخ څخه تر څلورپنځوسم مخ پورې خپره شوې ده، د یادولو وړ ده چې هغه وخت د دې مجلې چلوونکي خیال بخاري او نګران یې مولاناعبدالقادر وو. د ټول کال ګڼې یې یعني څلور واړه یې د یوې ګڼې په بڼه چاپ شوي دي د مقالې سره د ادارې له خوا دغه څو کرښې لیکل شوي دي، چې دلته یې راوړم، "ښاغلی عبدالحی حبیبی موږ ته دا

علمي او تحقیقی مقاله پروسخ کال د اګست په میاشت کښې رااستولې وه موږ د ښاغلی حبیبي په رسم الخط په ځاے پرېښودے دے او ډیرے ګوتے مو پکښې نه دی وهلی" (اداره) هم دغه رنګه دا مقاله دویم وار په همدې مجله کښي د ادارې لخوا خپره شوې چي دغه څو کرښي د ادارې له خوا پرې لیکل شوي دي، "د خدای بخښلي عبدالحي حبیبي دا مقاله څه دېرش کاله وړاندی دے ادارے شائع کړے وه اوس یې دوباره په دے غرض بیا شائع کوی چی ښاغلی لوستونکی د پښتو او پښتنو د اصل نسل پحقله کوم تپوسونه کوی د هغو په باره کښے څه جواب ترلاسه کړی دے،سره سره به اداره دهغو محقیقینو لیکونه هم وخت په وخت که خیر وی شائع کوی څوک چی د حبیبی صاحب د نظریاتو سره اتفاق نه لری" (اداره)

د پښتو مجلې چلوونکو دغه مقاله دویم وار په څلورو ګڼو کښي بشپړه خپره کړې چي لومړۍ برخه یې د ۱۹۸۹م کال د اپرېل په ګڼه، دویمه برخه یې د ۱۹۸۹م کال د مئی، جون په ګڼه، درېیمه برخه یې د ۱۹۸۹م کال د جولائي، اګست، سیپتمبر په ګڼه، او څلورمه برخه یې د ۱۹۸۹م کال د اکتوبر، نومبر، دسمبر په ګڼه کښي بشپړه چاپ شوې ده، هېره دي نه وي چي هغه وخت د "پښتو" مجلې نګران محمدنوازطاهر و، او چلوونکي یې ډاکټرراج ولي شاه خټک او پېغله سلمی شاهین وو.



د لوی استاد د مقالو او آثارو په کتابي شکل او دوهم ځل چاپېدو کښي پښتانه زلمیان په پوره ډول نه وو بریمن شوي، چي د مرګ استازي د دې پراخي سیمي او درست پښتون پر کور باندي یو بل ستر او نه جبرانېدونکی ناورین مېلمه کړ.

د اروابناد لوی استاد اوسمهاله ځای ناستي اکاډمیسن پوهاند علامه رشادبابا یې را څخه بېل او د تل لپاره یې د هغوی د پوهنیزو او څېړنیزو پېرزوینو څخه بې برخي کړو.

کندهاري زلمیانو تر زیاتي کچي د لوی استاد علامه حبیبي د آثارو چاپ ته ملا تړلې چي تر زیاتي اندازې کامیابه هم دي. خو د یادولو وړ.ده چي اوس د پښتو ژبي د نور چوپړ په څنګ کښي د ټولي پښتونخوا د لیکوالانو دا دنده ده چي د نوموړو پوهانو (لوی استاد اروابناد علامه حبیبي او اروابناد علامه رشادبابا) آثار چاپ کړي.

د لوی استاد دا علمي او څېړنیزه مقاله "پښتو څوارلس سوه کاله پخوا" په دې نیت د کتاب په بڼه کښي چاپوو، چي یوې خواته د لوی استاد څه نا څه حق پر ځای شي او بل د پښتو ادب دغه ورک څپرکی په کتابي ډول مینه والو ته وړاندي کړو، ما چي کله دغه مقاله څو واره ولوستله نو دې نتیجې ته ورسېدم چي دغه ارزښتناکه مقاله باید پخوا لا په کتابي بڼه چاپ شوې وای، ما هڅه کړې چي د لوی استاد اروابناد علامه حبیبي دغه ارزښتناکه مقاله په خپله اصلي بڼه کښي تاسو ته وسپارم، خدای شته چي ترکومه حده زه د لوی استاد له نثر سره

بلد یم، نو مې د دې مقالې ځینې توري که څه د املاء په حواله او که څه نوره لاس وهنه پکښې شوې وه، نو مې د لوی استاد د نورو څېړنیزو لیکونو په رڼا کښې اصلي بڼې ته بېرته راواړولې ده. اوس دغه دی ستاسو په لاسو کښې د لوی استاد یو بل اثر "پښتو خوارلس سوه کاله پخوا" پروت دی لوستلو او پخپلو لیکونو کښې یې د یو موثق ماخذ په توګه د کارولو بلنه درکوم.

**په پښتنې مینه**

محمدصادق ژړک
پښتو ادبي غورځنګ، کوټه، پښتونخوا



.د پښتو ادب یو ورک څپرکی

# پښتو خوارلس سوه کاله پخوا

## د بغلان ډېر لیک، د روزګان ډبرلیک، د غزني لویکان

د پښتو ادبیاتو تاریخ لومړی ټوک خوارلس کاله پخوا مالیکلی او چاپ کړی و، خو دویم ټوک یې اوس پښتو ټولنې چاپ کړ، مګر افسوس چې دا چاپ بالکل ناقص او نیمګړی دی، او د کتاب نیمه برخه هم نه لري.

د پښتو ادبیاتو تاریخ دویم ټوک ډېر نوي تحقیقات او ادبي پلټنې لري، چې تر اوسه به چاته معلومه نه وي، او ښایي چې دغسې هم پټې پاتې شي، او زمانه یې د لیکونکي سره سره د عدم کندې ته لاهوکا، مګر واخلئ له دې کتابه دا یو څپرکی تاسو پخپله "پښتو" کښې خوندي کړی، ګوندي د زلمو پکار ورشي، او د پښتو په آینده پلټنو کښې د دوی رهنما وي.

**گمان مبر که بپایان رسید کار مغان**
**هزار باده ناخورده در رگ تاکست**

کراچي ٣٠ جولایي ١٩٦٠ حبیبي

يو زر څلور سوه کاله پخوا، يعني د اسلامي دورې په لومړنيو پېړيو کښي د کابل او هندوکش په درو، او د پښتونخوا په ښارونو کښي ځيني محلي د شاهانو کورنۍ پاتي وې چي دوی د هغو پخوانو هفتاليانو (ابداليانو) او هونانو (خانانو) او کوشانيانو بقايا وو، او غالباً دا ابن خرداذ به: کابلان شاه او د باميان شيران شاه، او د زمينداور داوران شاه[1] او د زوال هفتالي (ابدالي) چي له دوی څخه د مهرگل (مير کهول) کتيبه د روگان په دره شالي کښي شته، دا ټول سره خپلوان وو.

د دغو شاهي کورنيو تاريخ ښه نه دی معلوم، فقط له ځينو سکو څخه د دوی يوڅو نومونه موږ پېژنو، او دا هم نه ده ښکاره، چي د دوی ژبه څه وه؟ خو رسم الخط يې يوناني، اوسره د اناگري، يا کله منگلي هم وو[2].

دلته د دې شاهي کورنيو اصل او تاريخ او وقائع ليکنه مقصد نه ده، بلکي د دوی د ژبي څرک ايستل مو پکار دی، او ځکه چي دغه شاهان د پښتونخوا په زړه او زابلستان کښي

---

[1] المسالک الممالک د ابن خرداذ به، ص. ۱۷۰ د ليډن طبع.
[2] د پيښور موزيم په ډبرليکونو کښي پرې يو منگوی خط هم سته، چي د هونانو (خانانو) د عصر دی.





اوسېدل، نو که د دوی ژبه پښتو نه وه، ايا کومه بله ژبه وه؟ او هغه ژبه څه شوه؟

دا معقوله خبره نه ده، چي د يو قوم ژبه، په يوه وار ورکه او مړه او تر خاورو لاندي شي، که کومه ژبه هم مري، دا کار قرنونه غواړي، نو موږ په ټينگه ويلای شو، چي د دغو خلکو ژبه به يا پښتو وه يا يوه لهجه، چي هغه به هم ډېره پښتو ته نږدې وه.

د دې تاريخي کشالې د حل کولو او سپړدلو لپاره چي کوم دلائل او مثبت سندونه زه لرم، هغه دلته په تفصيل سره ليکم.

## (۱) د بغلان ډبر ليک

بغلان د کابل شمالي خوا ته د پخواني تخارستان په سيمه کښي ۴۴۱ کيلومتره له کابله ليري دی، او دا يو ډېر قديم د مدينت مرکز و، او دلته اوس د اروپا يوهان په کيندنو او پلټنو بوخت دي، چي د يو لوی زاړه معبد نخښې يې تر مځکي لاندي موندلي دي او له دې پخواني معبده چي غالباً به اورتون (آتشکده) و، په يوناني خط او ژبه يا په يوناني خط او بله محلي ژبي ليکونه پيدا شوي دي، چي تر اوسه د دې کتيبو

د محلي ژبې لیکونه نه دي لوستل شوي، او نه ده معلومه چې هغه کومه ژبه وه؟

خو داسي ښکاري چې په عیسوي لومړیو پېړو کښي (دوه زره کاله تر اوس دمخه) لا هم هلته د اور پرستش جاري و، او په بغلان کښي د سره کوتل پر غونډۍ چې له پل خمري څخه ۱۵ میله د ایبک خواته پروت دی، یوه آتشکده کشف شوې ده.

فرانزالشیم روټ شنتیل جرمني پوهاند د بغلان د لیک یوځو لیکي لوستي دي، چې په یوناني خط دي، او یوه جمله یې داسي ده "کیردومي بغولانګ"[۳].

پروفیسر هننګ جرمنی وایي: چې په دې کتیبه کښي د بغلان قدیم نوم بغولنګ دی، چې سغدي شکل یې بغدنګ یا بغدنج و، دال په لام تبدیل شو، او آخرنی جز (انګ) په (آن) واووښت، او بغلان ځني جوړ شو، او په زړه پارسو کښي هم (بغدانګه) د آتشکدې او اورتون معنی لرله[۴].

اوس به موږ دا کلمه تحلیل کړو: بغه یا بګه په ټولو قدیمو آریایي ژبو کښي د (خدای) نوم و، د اوستا: بغه، د زړې پارسو: بګه، د سنسکرت: بهګه، د روسي: باګو ټول له دغه اصله دي، او دا لغت په قدیمو نومو کښي خو لا ډیر دی، لکه: بغ پور (معرب یې فغفور دی، یعني د خدای زوی) بغستان

(۳) د شرق او غرب ایټالوی مجله ـ نومبر ۱۹۵۷ م.
(۴) اریانا. اسد ۱۳۳۶ ش.





(بیستون، یعني د بغ ځای) بغداد بغشور، بغنی، بغلان (د ښارونو نومونه) بغان یشت (د استا یو څپرکی) بغار (په بهسود د ایزنګی کښي) بغاوي (سرپل کښي) بغک (سمنګان کښي) بغیار (وادي کرم).

په پښتو کښي دا کلمه اوس هم شته، خو شکل یې د اوستا په رنګ (بغه) نه دی بلکې د داریوش د بیستون د لیک په ډول بګه[۵] ته نږدې دی.

بګ، اوس لوی او عظیم ته وایي، چې دخدای صفات دي، وایي پلانی بګ سړی دی، یعني لوی دی، قوي دی، توانا دی، ښایي چې بغه یا بګه هم له صفاتي اسماوو څخه و نه ذاتي، او وروسته د اسم ذات په ډول مشهور شوی وي، لکه رحمان، غفور او نور صفاتي اسماءالله.

د پښتو دا قدیم (بګ) هم په ځینو پخوانو نومو کښي تر اوسه سته، لکه: بګرام، بګرامی (کابل) بګل (هرات) بګلا (غزنی) بګ لک (دایزنګی) بګه پای (تالقان) بګی (ترنک).

اما د کلیمې دویم جز (انګ) هم د قدیمو ښارو د نومو په پای کښي ډېر وینو، مثلاً: سالنګ (د کابل شمال ته دره) یکاولنګ (په دایزنګي کښي)، ښېلنګ (د هلمند د ناوې ښار، الي شنګ (د لغمان یوه دره)، اولنګ (د سالنګ په مینځ کښي) مستنګ (بلوچستان کښي)، زرنګ (د سیستان ښار)، پوشنګ (د

(۵) یسنا ۱ تا ۲۰۴.

هرات غربي خوا ته)، گیرنگ (د مرویو ښار)، وررنگ (د غور یو رباط) چي عربي جغرافیاوالو دغه اخیرنی جز (انگ) په (انج) اړولی، او دا ښارونه یې پوشنج، بشلنج، مستنج، زرنج، جیرنج، هم لیکلي دي،[۶] او لکه پروفیسر هننگ چي وایي: دغه (انگ) او د عربو (انج) د آتشکدې معنی لرله، او د بغولنگ اوسنی کشف شوې آتشکده یې هم ښکاره دلیل دی، او د کابل او هندوکش د درو کوم پاچهان چي د اسلام د ظهور په پېړیو کښي وو، د اکثرو پر سکو هم اورخانې لیکلي شوي دي.

دغه انگ (آتشکده او اور) وروسته په پهلوي ژبه اتهر، آذر بلل شوی دی، چي معنی یې هغه (اور) ده، د بندهش په ۱۷ فصل کښي درې لوی آتشکدې یادي شوي دي، چي یوه (آذر فروبغ) نومېده، او د دې آتشکدې ځای د کابل پر "روښان غره" وو.[۷]

که څه هم په یقیني ډول نه ده معلومه چي دا "روښان غر" چیري و، خو د نامه له پهلوي شکله چي هغه قدیم انگ په پهلوي آذر او د بغ کلیمې لري، باید دا وواېو، چي هغه به دغه د بغلان آتشکده وه، او ښایي چي بغلان لکه اوس په هغو وختو کښي هم له کابله سره مربوط و.

(۶) احسن التقاسیم ص ۳۰۶ تا ۳۱۲- اسطخری، ص ۲۳۹.
(۷) یسنا ۱ تا ۱۳۲.





په هر صورت دغه (انگ) یقیناً د اور معنی لرله، او اورتون او آتشکده هم انگ بلل کېده، وگورئ په اوستا کښي د ژانگه (د ژ یعني بد، انگه یعني اور) چي د وهیشته (بهشت) مقابل او ضد و، او دغه اوسنی کلمه (دوږخ) هم له دې څخه جوړه شوه.[۸]

ځکه چي د اور پرستش د زردشت له عصره بیا تر اسلامه پوري څو زره کاله، د اباسین او آمو او دجلې تر منځ د خلکو عام دین وو، او په هر ځای کښي اورتونونه وو، نو دغه (انگ) د اکثرو ښارو په پای کښي دلالت کوي، چي هغه ځایونه د آتشکدې او معبد په نامه مشهور شوي دي.

## په پښتو کښي (انگ)

په پښتو کښي د (انگ) دغه زړه ریښه تر اوسه هم لیدله کیږي: انگار او انگاره ډېر سره او گوټه اور ته وایي، چي د کلیمې لومړی جز (انگ) دی، انگل هم په پښتو شور او حدت او تیزي ته وایي، چي د اور صفات دي، د دې کلیمې اول جز هم (انگ) دی، او لام له ظرفي اداتو څخه و، لکه بورجل، کتل، زاول، کاول، انگازه هم د تیزی او حدت په مناسبت په اول سر کښي (انگ) لري، انگولا هم د تېز او سوځونکي رږغ دی، ښایي چي د انگریزي Anger (خښم) او Angry (خښمناک) هم د حدت

(۸) یشتها ۲ تا ۱۷۰.

او تېزوالي په مناسبت دغه رېښه ولري، او Angel (فرشته) د رڼا او روښنايي په مناسبت هم له دغي رېښې څخه وي.

د ملا فيض الله کاکړ په شعر کښي دا کلمه عيناً داسي راغلې ده.

زړګی بند کړمه په منځ د پانړو پړانګ
سوځي زړه لکه پيلوځی په بلانګ

دا بلانګ مرکبه کلمه ده، بل (مشتعل، بلېدونکي) انګ (اور يعني) بل اور.

دلته دا خبره هم بايد هېره نه کړو: چې د بغولنګ (سغدي بغدنګ، او د زړې پارسو بغدانګه) د بغ او (انګ) تر مينځ يو (د) هم شته، چې دا دال په پښتو کښي هم کله په لام اوړي لکه: ديوار = ديوال، غربيل = غلبيل او نور، نو دغه نوم په اصل کښي (بغو د انګ) و، او دا (د) د پښتو اضافي دال دی، چې اوس يې موږ تر مضاف اليه دمخه وايو: (د بغو انګ) يعني د (خدای اور) نو د پښتو د ابدال پر اصولو سم، دغه (بغودانګ = بغدنګ) بغولنګ شو. اما ورسته د دغي کليمې (انګ) په (آن) واوښت، او دغه (آن) هم د ځايو په نومو کښي تر اوسه مستعمل دی، مګر دا تحول وروستنی دی، مثلاً: ګلران (هرات) شملان (هلمند) بغلان (هغه زوړ بغودنګ) او داسي ډېر د ځايو نومونه چې آخر ته يې (آن) راځي.





د دې خبرې يو بل تاريخي ټينګ دليل هم سته، چې په چيني کتابو کښي د بدخشان نوم تر ميلاد دوه قرنه دمخه (تسه - نګ - لنګ) راغلی، او بيا د (٦٣٠ع) کال په شاوخوا کښي هيوان تسنګ پخپله سفرنامه کښي (پو - تو - جنګ - نه) او بيا په يوان شي کښي (به - ده - هه - شنګ) ذکر سوی دی،[٩] چې د (انګ) ټوټه وروسته په (آن) بدله شوې او بدخشان سوی دی.

بل مثال يې دا دی، چې د ګوزګانان په غرو کښي يو ځای سنګ چارک سته چې دغه سنګ هم پخوانو جغرافياوانو (سان) راوړی دی.[١٠]

له دې څېړني څخه تاسوته ښکاره سوه، چې د بغودنګ يا بغلان درې کليمې (بغو - د - انګ) په پښتو کښي زړې رېښې لري، او اوس هم دا درې سره کليمې مستعملې او ژوندۍ دي، نو دا نوم په خپل پخواني شکل بالکل پښتو دی.

اوس چې تاسوته د بغودنګ، بغولنګ، بغلان زړې رېښې په پښتو کښي ښکاره سوې، نو په زه دا هم ووايم، چې د بغلان د آتشکدې د ليک، نوري ويلي شوي کليمې هم پښتو دي.

---

[٩] په چيني کتابو کښي د منځنيو پېړيو پلټني، د پترچ مېدد تاليف، د لندن طبع ١٨٨٧م.

[١٠] اصطخري، ص ٢٧٠، حدودالعالم ص ١٩ تا ٦٠.

## کیردو - مي:

دا کلمه هم دوې ټوټې ده: کیر دو - م له (کیردو) څخه په مړ صوتي تغیر اوسنی پښتو (کړی دی) جوړیږي. دا نکته مه هېروئ: چې پښتانه د صوتي حروفو په تلفظ کښي ډېر سره مختلف دي، خو زما په خیال هغه تلفظ چې د غرو پښتانه یعني اپریدي او وزیر او مسید او وردګ یې کوي. پخواني تلفظ ته نږدې دي، ښارو ته نږدې ژبې ډېري مهذبې او تراشلي سوي دي، د بیستون د کتیبې د صوتي حروفو تلفظ هم د دغو قبیلو تلفظ ته نږدې و، او د بغلان د لیک د ږغیزو توریو ږغونه هم دغسي دي.

(کړی دی) د غرو پښتانه تر اوسه هم په مختلفو لهجو ادا کوي: کاکړان وایي: (کړې ده) ځیني پښتانه یې (کیږده - کیږایي دو - کیږیه ده) او ځیني یې کټ مټ هغه (کیږدو) وایي.

وروستنی (می) منفصل فاعلي ضمیر دی، چې هم په پښتو کښي ژوندی او مستعمل دی، او تر مفعول وروسته راځي، نو (کیږدومی) کټ مټ پښتو فعل دی، او ټوله جمله داسي کیږي: کیږدومي بغولنګ = کړی دی مي بغلان.

دا خبره هم واورئ: د کړل = کول فعل په پښتو کښي ډېري معناوي لري، چې یوه زړه معنا یې هم (جوړول، ابادول، تعمیر) ده، کاکړان وایي: سنک هلته بورجل وکاوه، یعني





سنک هلته برج جوړ کړ، کندهاریان وایي: میرو په ښار کښي کور کړی دی، یعني په ښار کښې کور اباد کړی دی.

د (کړل) په ریښه کښي د اوستا (کر) او د پهلوي او فارسي (کردن) ورسره نږدې دی، او د ابادولو او تعمیر معنا له پخوا پکښې پرته ده، د خرده اوستا په اتش بهرام نیایش (۲۰ فقره) کښي د آتشکدو، په نومو کښي (مینیو کردو) هم راغلې ده،[۱۱] مینیو یا مینو (د پښتو د منل له ریښې څخه) د فارسي (خرد) معنا لري،[۱۲] او کردو هم کټ مټ دغه (کیردو) ده، چې د اباد کړي او جوړ کړي معنا ورکوي، او دغه آتشکده، مینیو اباده کړې وه.

په زړه پارسو او پهلوي هم (کرته، کرد) د ښارو په نومو کښي د ابادکړي په معنا، مثلاً پارسه کرته (بازار کاد، او یوناني پرس پولیس په فارس کښي) او نور ښارونه لکه بلاش کرد، خسروکرد، یزدکرد، بغکرد[۱۳] چې معنا یې هغه اباد کړی دی.

د اسلامي عصر په لومړنیو پیړیو کښي چې اوسنی فارسي له پهلوي څخه زیږېده هم (کردن) د جوړولو او ساختن په معنا کله کله استعمالېده، مثلاً خواجه عبدالله انصاري هروي

[۱۱] خرده اوستا، د پور داؤد ترجمه، ص ۱۳۷، د بمبی طبع.
[۱۲] یسنا (۱ تا ۲۰) د پور داؤد ترجمه، او مزدیسنا و شعر فارسي د دکتور معین تالیف، ص ۳۰۱.
[۱۳] سبک شناسي ۱ تا ۳۱.

لیکي: یوه ترسا امیر، چي د شام په رمله کښي و، له صوفیانو څخه یې پوښتنه وکړه، چي: **شمارا جای هست کی انجا فراهم اېند؟ گفت نه - گفت: من شمارا جای کنم، تابا یکدیگر انجا فراهم ایید، ان خانقاه رملهٔ بکرد.**[14]

دلته هم د کنم او بکرد دواړه د ابادولو په معنا دي.

نو د بغلان د کتیبې کیردومي بغولنگ، هم د پښتو (کړی دی می بغلان) دی، یعني اباد کړی مي دی بغلان او جوړ کړی مي دی بغلان.

په دې جمله کښي (مي) منفصل فاعلي ضمیر، موږ ته د ژبي پخوانی گرامري شکل هم رابښیي، چي تر اوسه هم ځیني پښتانه قبایل دغه (مي) کټ مټ دغسي استعمالوي، یعني د فعل په مینځ کښي نه راولي، بلکې په اخر کښي وایي.

څکه چي تر اوسه ټوله دا پیدا سوي کتیبې نه دی لوستي سوي، ښایي چي د ټولو تر تحلیل او لوستني وروسته، ځیني نور حقایق هم څرگند سي، خو د دغو اوسنیو الفاظو څخه په لوړو دلایلو، موږ د پښتو بولگه ایستلای سو، او وایو، ښایي چي د پښتونخوا د دغو شاهي کورنیو ژبه به پښتو وه.

[14] طبقات الصوفیه، د استنبول خطي نسخه.





# (۲) د روزگان ډېرلیک

دوهم دلیل چي موږ ته د پښتو څرک، د دغو شاهانو په کورنیو کښي راکوي، د دوی نومونه دي، مثلاً یوه کورنۍ شاهان چي د هیوان تسنگ چیني سیاح په وخت (۶۳۰م) او دوو کونگ بل چیني سیاح (۷۶۰م) په عصر کښي پر گندهارا او اټک تر ټیکسلا پوري مسلط وو "کشتریان" دي، چي دا نوم د پوهاند مارکوارټ په قول (کشه تریه) او په زړه پاړسو او سنسکرت کښي هم وو.[15]

لکه چي ما په مفصل ډول، د دې کلیمې شرح د پښتو ادبیاتو په لومړي ټوک کښي کړې ده، اصل یې د پښتو (کښه توره) او د پیر روښان د خیرالبیان په ډول (تور کښ) دی[16] او له دغو څخه د یوه پاچا نوم (لکه تورمان) و، لکه تورمن یعني شمشیرزن، پښتو نوم دی.

نور برهمني پاچهان چي د مسیحي اوومي پېړۍ په اوله برخه کښي پر کابل او د هغه پر نژدو ځمکو حکمرانان وو، دا دي:

[15] اسلامک انسایکلو پیډیا ۱ تا ۶۴۳ د ایران شهر په حواله.
[16] وروسته به د پښتو بیت په شرح کښي د دې کلیمې تفصیل راسي.

کلر: مشهور په للیه - نوم یې کوي لر دی، یعني کوي او هوښیاري او سرداري لرونکی، (د کوی به وروسته وکړم) اما للیه د پښتو لالا او د مشر لقب دی - تر اوسه هم هر هندو ته مجازاً لالا وایي.

سامند: لومړی جز یې (سا) په ساهو کښې سته، چې په مسکوکاتو کښې (ساها) هم راغلی دی. دویم جز له (مندل) څخه دی، یعني سامیدونکی، چې سامنته هم کښل سوی دی.

کمرو یا کملو: دی په لام اوښتی دی، یعني رنګین او رعنا او ښایسته، چې تر اوسه هم کمرو نوم په پښتو کښې سته، یوه پښتو ناره ده:

کمره میر ولاړه پر ډبره
راسه خولګي راکه
ناامېده سي د لوی باري له دره

جیه پاله: ځیه = ژئي پالونکي، یعني قوم پالونکی یا ژوند پالونکی.

اننده پاله: انند یعني عیش پالونکی، خوشحال خان وایي:

خو به غم د مال و ملک، د دین و دل کړم
چې لا ستا له غمه روغ ګرځم انند دی

(ص ۴۱۳)

تروجن پاله: توروجن پالونکی، یعني توریالی پالونکی.





سپاله پتي: سپاه له پت ساتونکی او د لشکر پتي او مشر، د فارسي سپهبد.(۱۷)

پدمه: په دمه یعني په شوکت او دمدمه او مجلل او شوکتماب.

خودو یه که: د اېریدو خدویې او د تجلیل کاف، خدایک.

ونرکه: ورک د (ور) یعني فاتح تجلیلي مصغر.

د دغو پاچهانو فقط نومونه له سکو څخه معلوم سوي دي.(۱۸)

هم په دغو وختو کښې چې د لوی کوی شوانګ (کوشان) انحطاط د درېیمي مسیحي پېړۍ په اوایلو کښې شروع کېده، په باختر کښې، کیدارا، د کوچنو کوشانیانو د سلطنت سته تینګه کړه، (کوی) د پښتو په ادب کښې (کاوه) راغلی دی، چې په ویدا کښې د سردار او پوه او دانا، او په اوستا کښې د پیشوا معناوي لري(۱۹) دا لغت د اکثرو زړو نومو په سر کښې وو، لکه کوشان، کیخسرو، کاوه او نور، نو کیدار هم (کي دار - کي لار - کي لرونکی یعني سردار او پیشوا او هوښیار) و، چې دا کلمه تر اوسه هم د نورستاني خلقو په ژبه کښې (کتور)

(۱۷) د پتې شرح وګورئ: د پښتو ادبیاتو لومړی ټوک، ص ۷۵.
(۱۸) د اسلامک انسایکلو پیډیا د افغانستان آرټیکل، د لنګورت ډیمز سکه شناس په قلم.
(۱۹) تفصیل یې وګورئ: د پښتو ادبیاتو تاریخ، لومړی ټوک ص ۱۰۲.

پاته ده[20] او د کندهار د غربي خوا د غره پر سر چي کومي زړې ابادۍ دي، هغه (کيتور) بولي، ملاعبدالباقي کاکړ وايي:

پـــــر کيتــــــور بانـــــدي وخيـــــږه
خــــــو دي ديدشـــــــي ننـــــــدارې دي

د کيدار نوم خو پښتو دی، مگر د ده يو زوی (پيرو) نوميده[21] چي (پيرو، پيرا، پير، پيرک) نومونه تراوسه په پښتو کښي سته.

تر دغو شاهانو وروسته چي په (۴۲۵) عيسوي کال د هفتاليو (اَبدالیو) دولت جوړ شو، د دوی لوی پادشاه (اخشنور) و، (۴۶۰) چي د ده نوم په خدايې نامو او عربي کتابو کښي اخشنوار، اخشوان يا خشنواز راغلی دی، خو د کريستن سن په قول د دې کليمي اصل له خشيون سره نښلي، چي په سغدي کښي د پادشاه په معنا و.[22]

د افغانستان د تاريخ ليکوال ښاغلی کهزاد وايي: چي دا احشنور، پر گهر، معنا لري[23] خو ده د کليمي تجزيه او شرح نده کړې، چي دا معنا له کومه راوتلې ده؟

[20] د چارلس ميسن سفرنامه ۱ تا ۲۳۲ د لندن طبع ۱۸۴۲.
[21] د افغانستان تاريخ ۲ تا ۴۳۷.
[22] ساسانيان، ص ۳۸۵ د ميولر د متون سغدي ۱ تا ۱۰۸ په حواله.
[23] تاريخ افغانستان ۲ تا ۴۵۷.





او پر کوم فيلا لوژی تحليل بناده؟ او ځکه چي ده کوم علمي دليل ندی پيش کړی، نو قول يې سنديت نه لري.

خو د کريستن سن هاليندي پوهاند خبره سمه ښکاري، او دا کلمه داسي تجزيه کيږي: خش = کش = کښ د هغه قديم کش تري = کښ توري ريښې ځخه دی، چي اخشن = خشن = کښن ځني جوړ شوی دی، دوهم جز يې (وړ = ونړ) دی، چي په پښتو فاتح او وړونکی دی، نو کښنوړ = کښنونړ = خشيون = اخشنور توله يوې ريښې ته ورځي، چي معنا په پښتو، کښ وړ، يعني کشتريه فاتح (تور کښ فاتح) ده، او د دي (تور کښ وړ) پاچا جنگونه او فتوحات له ساساني فيروز شاه سره مشهور دي.[24]

د دغو هفتالو (ابدالو) ځخه چي په زابل کښي پاچهان وو، او په سکو کښي ئانونه جاولی = زاولی بولی، تورامانا (توره من) او د ده زوی مهراکولا (ميرکهول، لمر کهول) د (۵۰۰ع) په شاوخوا کښي د هند مشهور فاتحان دي.

دغه مهرا کولا د ابداليو مشهور فاتح، دوې کتيبې لري، چي د کندهار په شمالي (۴۰) ميلي روزگان کښي د شالی په دره کښي پر ډبرو ليکلي سوي دي.

د آکسفورډ د پوهنتون د تاريخ استاد ښاغلی بيور دغه کتيبې کتلي، او يوه مقاله يې د پيښور موزيم په مجله کښي پر

[24] ساسانيان، ص ۳۸۴.

لیکلې ده، دی وایي: دغه د روزګان کتیبې له هغو درو نورو هفتالي لیکنو سره چي په توچي (وزیرستان) کښي پیدا سوي، او اوس د پېښور په میوزیم کښي خوندي دی، ډېر مشابهت لري. خو تر اوسه دغه د وزیرستان لیکني ندي لوستلي شوي، خو یوه له دغو څخه په منګولي خط او بله په یوناني خط ده، او دوې په دوو ژبو دي.

د پښتو موزیم نمبر ۴۱ وزیرستاني کتیبه په کوفي رسم الخط څیني عربي کلمات هم لري، چي (الله جل جلاله) او (محمد ﷺ) پکښي ښکاري، او نور منګولي توري دي.

پروفیسر بیور وایي: د روزګان یوه ډبره چي ښه روښانه ده، په یوناني رسم الخط دا الفاظ پکښي لیدل کیږي:

"باګوس شاهو زاولو مهروز کی"

بیور وایي: دغه پاچا چي نوم یې دلته راغلی دی، هغه د هون پاچا مهرا کولا به وي، چي د (۵۰۰ع) په خوا و شا کښي پاچهي لرله، او د ده اصلي نوم لا تراوسه نه دی معلوم چي څه و؟ د دې الفاظو ترجمه دا ده:

"خدای مقدس پادشاه زابلی مهرا" (۲۵)

اوس موږ دا الفاظ په ژوره کتنه ګورو، چي څنګه دي؟

۱. باګو هغه بګه، بغه او د پښتو بګ دی، چي معنی یې عظیم او خدای ده (شرح یې د بغلان په کلمه کښې تېره

(۲۵) د پېښور موزیم مجله، دسمبر ۱۹۵۳م.



igital Library



سوه) پس له دې کلیمې (س) لیدل کیږي، چي ښاغلي بیور (ری) ورسره زیاتوي، او کلمه (سری) لولي. مګر ښایي چي دغه (س) د (باګو) سره یو ځای. او کلمه (باګوس) (باګویس = باګویز) وي. او دا پښتو (ایز = ایځ = ایس) د نسبت لاحقه Supplix ده. چي معنا یې کیږي: (خدای، الهی، مقدس).

۲. شاهو یا ساهو په پښتو کښي سته. چي کله علم وي او کله صفت. وایي چي دغه کلمه او شاه او شار او شیر او شهر ټول له قدیمي کشتریه کښې تور څخه راوتلي دي(۲۶) چي شار د غرجستان او شیر د بامیان او پاچهانو القاب وو(۲۷) او د زابل او کابل د پاچهانو معاصر وو، په پښتو کښي تراوسه شاهوزی او شاهو خیل سته.(۲۸)

۳. زاولو منسوبه کلمه ده زاول ته. چي جاول او جاوله هم تلفظ کېده، او زابل یا زابلستان له غزني څخه د هلمند تر غاړو پوري ځمکه وه. او دغه اوسني جاغوري او اجرستان او روزګان یې مرکزي سیمي وې، چي کتیبه هم په دره شالي کښي ده، چي له کندهاره د روزګان لار

(۲۶) ایرانشهر د مارکوارټ تالیف.
(۲۷) ابن خرداذ به ص ۳۹ د لندن طبع ۱۳۰۶ه تاریخ الیعقوبي ۳ تا ۱۳۱.
(۲۸) وګوری: مخزن افغاني د نعمت الله او حیات افغاني او صولت افغاني.

Digital Library



اجرستان او جاغوري او غزني ته پر دغه دره ځي[29] دا د نسبت (و) اوس هم د پښتو په ځینو صفاتو کښي سته، لکه خېټه - خېټو، بریت - برېتو، غوږ - غوږو، خو په مکاني نسبت کښي اوس نه راځي.

۴. بله کلمه په دې کتیبه کښي مهروزکي Mihrozki ده.
چي د بیور په خیال دا نوم هغه، مهرا کولا، دی.
ما د پښتو ادبیاتو په لومړي ټوک (ص۷۵) کښي تفصیل لیکلی وو، چي کولا په ویدي ژبه د کورنۍ او خاندان معنا لري، اوس موږ (کهول یا کول یا کاله) ورته وایو، دا کلمه د شیخ رضي او شیخ نصر لودی په شعر کښي (کهاله) او د سلیمان ماکو په تذکره (۶۱۲هـ) کښي کول وه[30] پښتانه تراوسه هم وایي: پایند کول (خاندان پاینده) مامد کهول (خاندان محمدزی).

امامهر هم په پښتو (میر، مر، لمر، نور) دی د لورلایي ترینان تراوسه هم لمر (میر) بولي، نو مهرا کولا = میرکول = د لمر کهول = د لمر له خاندانه دي، دا نوم تراوسه هم په پښتو کښي ډېر مستعمل دي: لکه میرخان، میرو، میرا (مونث: مورا) او هغه زوړ میرکهول هم اوس میرگل شوی، او زوړ مفهوم

[29] اریانا، شماره (۶۱) زما مقاله "زوال، کاول".
[30] وگورئ: پټه خزانه، ص ۷۱، پښتانه شعراء لومړی ټوک ص ۶۵.





یې له اذهانو ځخه وتلی دی، شاه گل (شاه کهول) او ماه گل (مهاکهول) هم دغه ریښې لري.

مگر دلته باید دا خبره هم وڅیړو: هغه زوړ (مهراکولا) چي په سنسکریت کښي هم و، او د دې کورنۍ پر مسکو کاتو لیکلي دي، څنگه دلته (مهروزکی) سو؟

دا مشکل هم پښتو په ښه ډول حل کوي: په پښتو کښي له پخوا ځخه یو بل نوم دغسي سته (میرویس) چي د مردان په سیمه کښي د پېښور شمال مشرقي خواته یوځای (میرویس) سته، او د هوتکو مشهور مشر میرویس خان کندهاری خو هر څوک پېژني.

دا نوم هم د پخوانو یادگار دی، او پښتانه یې تجلیلاً مصغر کوي، میروسکی، میروڅکی وایي، او دا شکل کټ مټ هغه دی، چي د روزگان پر ډبرلیک سته.

میر هغه مهر، لمر، آفتاب دی، ویس یا ویسه یا ویسیا د کلي، قبیلې، کورنۍ په معنا په سنسکریت او اوستا کښي هم وو، (ویس پتي) د کورنۍ پتي او ساتونکی وو[31] او د گیگر الماني محقق په قول په ریگویدا کښي هم ویس (ټبر، کورنۍ) ته ویل کېده[32] نو میرویس هم کټ مټ هغه (مهراکولا) او میر

[31] کیمبرج هستري آف انډیا ۱ تا ۹۱
[32] د شرقي ایرانیانو تمدن ۱ تا ۲۶۶ د دې کلیمې تفصیل وگورئ: تاریخ ادبیات پښتو ۱ تا ۷۷.

کول دی، چې معنا یې هغه د لمر کورنۍ ده، او میروسکی د دې کلیمې تصغیر دی، چې داسې تجلیلي مصغرات پخوا ډېر وو، او شرح به یې وروسته وسي.

له دې لیکنې څخه داسې ښکاري: چې مهروسکی = میرویس = میرکهول = میرکولا (میراګل د پښتنو هفتالیو (ابدالیو) یو خدای او مقدس پاچا وو، او دوی هغه وخت خپل پاچا ته د تقدس په نظر کاته، او القاب یې (خدای، الهی) وو.[۳۳]

دا چې زه دغه کتیبه پښتو ته نږدې بولم، یو بل ګرامري دلیل هم لري، د دغو کلیماتو ترکیب او نښلونه د پښتو پر اصولو سمه ده، تر اوسه هم د پښتو ګرامر یوه مسلمه قاعده دا ده: چې صفت یا صفات تر موصوف دمخه راځي، خو په فارسي کښې دا قاعده بالعکس ده، په پښتو وایو: تور آس، چې په فارسي "اسپ سیاه" ورته وایي.

[۳۳] د دې کتیبې تفصیل د بیور د مقالې په فارسي ترجمه کښې ولولئ، سروش د کراچي طبع ۱۴ اګست ۱۹۵۹م، د دې ډبرلیک پر لوړه خوا یو څو عربي توري هم ښکاري، چې (حسن) یې لوستل کیږي، خو بله کلمه هم خرپول یا خرپوست ښکاري، ګمان کوم چې دا به هغه ملک تاج الدین حسن سالار خرپوست وي، چې د غور د تولک حکمران و، او په (۶۲۱هـ) قاضي منهاج سراج د ده په امر اسفزار ته تللی و، (طبقات ناصري ۱ تا ۶۹۸) مګر دا توري ښایي چې تر ۶۰۰هـ وروسته لیکل شوي وي، ځکه چې د خط ډول یې د دغو وختو دی.





په دغه کتیبه کښې هم ټول صفات ترخپل موصوف دمخه دي:

"خدای شاه زاولي میروڅکی"

درې صفته ترخپل موصوف دمخه دي، او دا هم ښایي چې د ژبې د ساختمان اثر وي، د دغې کتیبې په مقابله کښې د بغ دت بن بغ کرت، د پارس د یو شاه (۲۲۰ق م) د سکې لیک وګورئ، چې صفات ټوله تر موصوف وروسته دي.

"بغ دت، پر ترکه، زی بغی، بغ کرت"[۳۴]

یعني: بغ دت (بغداد، د شاه نوم) پر ترکه (د کورنۍ نوم) زی (از یعني زوی) بغی بغکرت (خدای بغکرت، چې د پلار نوم یې دی).

دا وو زموږ هغه دلایل چې د پښتو څرک مو د اسلام په لومړیو زمانو کښې ځنې وایستلې، اوس به نو راسو خپل اصلي مطلب ته چې د لویکانو یا لاویکانو کورنۍ ده.

## لویکان څوک وو؟

د دې کورنۍ تاریخ هم لکه هغه نوري کورنۍ، ډېر څرګند نه دی، فقط د (لویک یا لاویک) نوم ذکر سوی دی.

لنګورتهـ ډیمز مشهور انګلیسي سکه شناس مورخ لیکي:

[۳۴] سبک شناسي ۱ تا ۱۳۰ د تهران طبع.

د (۲۶۰هـ) په شاوخوا کښې د غزني محلي حکمران (شاه لاویک) بلل کېده، خو د ده شخصیت مجهول دی. د کابل د هندو شاهانو سره متحد و. او دا گمان کېږي چې دی به هم هندو و. بیا نو بلکاتگین د سامانیانو له خوا پر غزني غالب شو. او په (۳۵۹ه) یې لومړی پلا دلته سکه ووهله. تر "بلکا" وروسته "پیری" د غزني پاچا سو. چې د "لاویک" او د کابل هندوشاه سره متحد وو. خو چې سبکتگین په (۳۶۷ه) له پروانه پر ده حمله وکړه. غزني یې څني وینو.[35]

دغه "لویک" یو سړی نه و. بلکې لویه کورنۍ وه. چې په غزني او گردیز او نورو شاوخوا ځایو کښې سلطنت کاوه. او د کابل شاهانو او د زاول د رتبیلانو سره متحد وو. او مؤرخانو یې ذکر داسي کړی دی:

(۱)

ابو سعید عبدالحی بن ضحاک بن محمود گردېزی، چې د (۴۴۰هـ) په شاوخوا کښې ژوندی و. د یعقوب لیث صفاري په احوال کښې داسي لیکي:

"یعقوب غزني وېناوه. او بیا گردېز (گردیس) ته ولاړ. او د ابو منصور افلح بن محمد بن خاقان. د گردیز له امیر سره یې جنگ وکړ. خو دې امیر لس زره درهمه ججه ومنله. بیا نو

(۳۵) اسلامک انسایکلو پیدیا. د لندن طبع ۲ تا ۱۵۴



Digital Library



یعقوب بلخ په (۲۵۶ه) کال ونیو. او د هغه ځای نوشاد (نوشار) یې وران کړ".[36]

دغه افلح د گردیز امیر هم له دغو "لویکانو" د کورنۍ و. چې شرح په یې وروسته راسي.

(۲)

د نظام الملک په سیاست نامه کښې چې د (۴۸۵هـ) تالیف ده، د الپتگین جنگونه له کابلي او غزنوي امیرانو سره راوړي او وایي چې الپتگین د بامیان له امیر سره چې (شیرباریک) نومیده جنگ وکړ. او دغه شیر یې ونیو بیا یې نو وباخښه. وروسته یې پر کابل حمله وکړه. او د کابلشاه زوی یې ونیو. دا د کابل شهزاده د "لویک" زوم و. او د غزنین امیر "لویک" هم وتښتېد، سرخس ته ولاړ.[37]

له دې روایته ښه معلومېږي. چې د دې کورنۍ نوم (لویک) و. او د دوی خپلوي له کابلشاهانو سره هم ښکاري. الپتگین په (۳۵۱ه) غزني له "لویک" څخه نیولی و. او بیا چې په (۳۵۲ه) دی مړ سو. او زوی یې اسحاق د غزني پاچا سو نو "لویک" بیا پر غزني حمله وکړه. خو ساماني پاچا، منصور بن نوح د اسحاق په مرسته و. نو غزني بیرته اسحاق ونیو.

(۳۶) زین الاخبار، ص ۶ د تهران طبع.
(۳۷) سیاست نامه، ص ۱۲۲ د تهران طبع.

gital Library



د اسحاق تر مرگ وروسته په (۳۶۵هـ) امیر "پیری" د ده پرځای پر غزني کښېنوست، مگر د غزني خلکو بیا امیر "لویک" راوغوښت، او لویک د کابلشاه د زوی په کومک پر چرغ (د کابل جنوبي خوا ته د لوگر پر سیمه) حمله وکړه، خو دلته امیر سبکتگین دوی مات کړل، او پخپله په ۲۷ د شعبان (۳۶۶هـ) د غزني پر تخت کښېنوست.[۳۸]

(۳)

منهاج سراج جوزجاني (۶۸۵هـ) د سبکتگین په احوال کښې داسي لیکي: الپتگین غزنی او زاولستان فتح کړه، او امیر "لاویک" یې له غزني څخه ویوست، تر اتوکالو، وروسته چي الپتگین مړ سو، او زوی یې اسحاق پاچا سو، نو دی له "لاویک" سره ونښت خو مات سو او بخارا ته ولاړ، ده له منصور بن نوح څخه کومک واخیست، بیا راغی او غزنی یې ونیو. او تر ده وروسته ملکاتلگین پاچا سو. او تر ملکا وروسته امیرپیري (پری) کښېنوست، خو خلکو بیا "لاویک" راوغوښت، "لاویک" د کابل شهزاده (په کومک) له ځانه سره راوست، مگر

[۳۸] افغانستان تر اسلام وروسته (خطي) ص ۶۹ د حبیبي تالیف، او اسلامک انسایکلو پیډیا لومړی ټوک د افغانستان آرټیکل.





په چرخ کښې امیر سبکتگین پر دوی حمله وکړه، او ډېر یې ووژل، دوه پیلان یې هم ځني ونیول.[۳۹]

د طبقات ناصري په مختلفو نسخو کښې دغه نوم "انوک" هم راغلی دی، چي صحیح نه ښکاري، او دغه اخیرنی "لویک" چي په چرخ کښې د سبکتگین له لاسه مات سو، هم په دوو نومو ابوبکر او ابوعلي لاویک بلل سوی دی، او داسي ښکاري چي مسلمان و، خو له دغو درو ډول (لاویک، انوک، لویک) څخه وروستنی املا صحیح ده.

(۴)

محمد بن علي بن محمد بن حسن بن ابوبکر شبانکاره چي مجمع الانساب یې په (۷۲۵هـ) لیکلی دی هسي وایي:

"الپتگین د بامیان تر نیولو وروسته کابل ته راغی. په دې وخت کښې د غزني ملک یو کافر و. چي "لویل" (لویک) نومېده، ده خپل زوی د (۳) زرو لښکرو سره مقابلې ته راواستاوه، خو الپتگین د لویک زوی ونیو، خلعت یې ورکړ، خپل پلار ته یې ولېږه، چي په تا اړه نه لرم، د هندوستان غزا له ځم. خو هغه کافر سلامي نه سو، نو الپتگین هم غزنی محاصره کړ. پس له دوو میاشتو یې ونیو. او تر څلورو میاشتو وروسته "لویک" او د ده زوی چي د غزني په کلا کښې وو. ونیول سوه،

[۳۹] طبقات ناصري ۱ تا ۲۶۸ د حبیبي طبع، کوټه.

igital Library



مگر چي دوی ظاهراً مسلمان شول، نو الپتگین هم ایله کړل، خو د دوی زړه پاک نه وو، هندوستان ته وتښتېدل او له هغه ځایه یې لښکر راوست، د دې پلا الپتگین د دوی مقابلې ته سبکتگین ورولېږه، او دوی یې مات کړل. د ېرش پیله یې هم ځني ونیول، او "لویک" وتښتېد.

دا انتخاب د مجمع الانساب له یوې قلمي نسخې څخه دی، چي د "لویک" پرځای یې د غزني د ملک نوم "لویل" هم لیکلی دی، مگر دا نوم هم کاتبانو مسخ کړی دی، چي اصل یې هغه "لویک" و.

دا نوم د پښتو (لوی) تجلیلي مصغر دی، چي په مختلفو لهجو کښې ږغیز توری اوړي: (لوی، لوای، لاوی، ل وی) ویل کېږي، د طبقات ناصري لاویک او د سیاست نامي لویک دواړه صحیح دي، او د یوې کلیمي دوې لهجې دي، مگر (انوک) ښایي چي د کاتبانو غلطي وي.[40]

[40] دا تاریخي پښتو کلمه (لویک) هر کله ناپوهو کاتبانو د نابلدۍ په سبب مسخ کړې او رنگ رنگ یې لیکلې ده، د دهلي د سلطان ناصرالدین محمود په دربار کښې یو مشهور فارسي ملک الکلام فخرالملک عمیدالدین لویکی مستوفي جمیع ممالک هندوستان (متولد ۶۰۱هـ متوفي تر ۶۸۳هـ دمخه) تېر سوی دی، چي د دغي لویکي کورنۍ له پاتو خلکو څخه و، او د ټول هند مستوفي الممالک هم و، او پخپل عصر کښې عمید "لویکي" بلل کېده، مگر دا کلمه هم کاتبانو مسخ کړه، او په کتابو او تذکرو کښې نونکي، تولکي، بومکي، لوبکي، دیلمي وکښله سوه (وگورئ: بزم مملوکیه ص۲۰۳ او د فارسي قدیم شعرا د دکتور اقبال حسین تالیف) د منتخب التواریخ مؤلف عبدالقادر بن ملوکشاه بداوني خو دغه





لوي په پښتو عظیم او بزرگ او مشر او سردار ته وایي، اوس هم لویان د قوم مشران او سرداران بولي. او دا هم لکه رتبیل او شیر او کیدار او کشتري د کورنی لقب او تجلیلي نوم و.

وروسته چي د لویک پښتو شعر راوړم، تاسي ته به ښکاره سي، چي په هغه کښې لویان، لویا هم راغلي دي، او دا نوم (لویک) د (لوی) تصغیر دی، چي دا تصغیر هم په پخوانو زمانو کښې عام رسم و، او خاص بیا د شاهي کورینو په نومو کښي رواج و.

د پختیا پښتانه تراوسه هم د افغانستان شاهي کورنۍ پایندک یا پایندک کهول بولي، ځکه چي دوی د سردار پاینده خان له اولادې څخه دي.

کلمه صحیحه (لویکي) لیکلې وه، مگر د منتخب په چاپي نسخه ( د کلکتې طبع ۱۸۶۸م) په اول جلد ۷۰ صفحه کښې تولکي، او په ۹۶ صفحه کښې نونکي، او په دریمه صفحه کښې لویکي چاپ سوه.

په کراچي کښې د ښاغلي دکتور کرنل رشید سره یوه د منتخب التواریخ مصوره صحیحه نسخه سته، چي غالباً د مولف په عصر کښې لیکل شوې ده، هلته پر (۱۵ورق) باندي په واضح ډول عمید :لویکي" او بیا مگر دا نسبت دغسي لیکلی شوی دی، نو ښکاري چي نورو تذکره نگارانو دا کلمه غلطه لوستې او مسخ کړې ده بعضو پوهانو ویلي دي: چي دا کلمه تولکي ده، او تولک د دیلم یو ښار وو.

صحیحه خبره دا ده، چي نه تولک په دیلم کي وو، او نه عمید تولکي دی، بلکه دا کلمه په صحیح شکل (لویکي) او دا شاعر دغي قدیمي کورنۍ ته منسوب وو، او ځکه چي په هند کښې په سنام کښې اوسېدی، نو سنامي هم بلل شوی دی.

Digital Library



په تاريخي نومو کښي هم دغه تصغير ډېر دی: بارک، اڅک، سنک، ختک، هوتک، شيتک، د پښتنو د نيکونو درانه نومونه دي، زمرک، شيرک، ببرک، خيرک او داسي نور ډېر نومونه تراوسه هم په پښتنو کښي ستته. د سلطان محمود مشهور وزير حسنک هم دغسي نوم و، د دغو لويکانو زماني ته نږدې ځيني تاريخي نومونه هم داسي وو، مثلاً فور د هندوستان شاه وو،(٤١) چي د مجمل التواريخ مولف، ملک الملک هندوان بللي دي(٤٢) او البيروني هم په تحقيق ماللهند او فردوسي په شهنامه او رشيد الدين په جامع التواريخ کښي هم فور راوړی دی، دا نوم د مهابهارت په ترجمه کښي پرج و، چي پلوتارک يوناني مورخ (پروس) ليکلی، او عربي مورخانو هم فور ملک الهند راوړی دی.(٤٣)

خو ابوالفرج رونی (د لاهور فارسي شاعر) د غزني د يو شاه په مدح کښي وايي:

تيغ تو بقهر بستده باج — ازخيل ختا وخان ايلک
ادرارتو خورده خان و قيصر — مامور تو بوده "رای فورک"(٤٤)

(٤١) تاريخ بيهقي ١ تا ١٠٠.
(٤٢) مجمل التواريخ ص ١٠٨.
(٤٣) تاريخ اليعقوبي ١ تا ١١۶ طبع نجف ١٣۵٨هـ.
(٤٤) ديوان روني، ص ۶۵ د تهران طبع ١٣٠٤ ش.





بل دغسي تجليلي مصغر نوم مهروز کښي (ميرويسک) دی، چي د مخه مو د روزګان د کتيبي په شرح کښي د هغه اصل او کيفيت ولوست. دغسي هم خودويکه (خدايک) هم دمخه ذکر سو، او ابن خرداد به هم د قديمو شاهانو په نومو کښي غوزک، نيزک، فورک راوړي دی.(٤۵)

نو په دغه ډول لويک هم د لوی تجليلي مصغر شکل دی، چي د پښتنو د نوم ايښولو له عامه رواجه سره هم سم دی، دا چي دوی شاه ته شاهک يا شاهو وايي، يا بابا ته بابک او بابکو وايي، دا سپکتيا نه ده، بلکي د عزت او احترام او تجليل او تحبيب علامه ده.

## د لويکانو يو پښتو بيت

مرحوم بازمحمدکندهاری قادری چي د کراچي په ملير کښي خانقاه و، ده د ډېره غازيخان په بلوڅو مريدانو کښي يو فارسي کتاب ګوتې مونډلی و، چي د سر او پای پاڼې يي لوېدلي وې، نو ځکه د کتاب د مولف نوم او د ليکلو تاريخ يي نه وو ښکاره، خو د خط او کاغذ له ليدني څخه ما دا تخمين کاوه، چي بايد د (٩٠٠هـ) په شاوخوا کښي ليکلی سوی وي، خط يي اخرنی نسخ و. اکثرو حروفو يي ټکي نه درلودل. هره (چ) په (ج) او پ (ب) او ګ (ک) ليکلي و، او داسي ښکارېده،

(٤۵) المسالک الممالک د ابن خرداد به، ح ٤١.

Digital Library



چي ليكونكي به يې په ژبه نه پوهېدى، او ډېر كلمات يې مسخ كړي وو، يا دا چي منقول عنها نسخه به دغسي مغلوطه وه.

دا كتابګوټي يو څو حكايات وو، چي موضوع يې د شيخ سرور د كراماتو بيان و، چي اوس يې فقط ۳۳ پاڼي پاته وې.

د كتاب ژبه او د فارسي ليكلو ډول يې داسي و، لكه د غزني او غوري دورې فارسي نثر، چي بنا يي د ۶۰۰هـ په حدودو كښي به تاليف سوي و.

د دې كتابګوټي نورو حكاياتو د تاريخ له نظره، كوم اهميت او قيمت نه لاره، صرف د هغه شيخ د كراماتو حكايات او هغه هم له عقله ليري غرايب او خوارق وو. دا كتاب په ۱۹۵۷م ماته د كتلو لپاره هغه مرحوم راكى، چي تر كتني وروسته مي بيرته وركړ، نه پوهېږم چي بيا څه سو؟

د دې كتابګوټي پر (۱۵) پاڼي باندي يو حكايت ليكلي وو. چي د تاريخي لحاظه ډېر مهم و. نو هغه ما كټ مټ نقل كړ. او پس له دوو كالو اوږدې مطالعې او پلټني موفق سوم چي هغه په حقيقي ډول ولولم، او مبهم كلمات يې سم وليكم.

دلته هغه حكايت لومړى په هغه اصلي املا راوړم، او خپلي څېړني پر زياتوم، چي زما په فكر د پښتو ادب په تاريخ كښي ډېره بها لري، او يو قيمتي ګران اثر دى.

حكايت (په اصلي املاء)





ابوحامدالراولي را در تاريخ غزنه از حسن صغاني روايت است: كه در بلده غزنه بر داب بامبان مسجديست عظيم، كه آنرا مرلت افلخ لويک خواندندى، واين بيحانه عظيم بود، كه وحومر لويک برحدمت رسل وكابلساه كرده بود.

جون بسرش خانان به مسلمي آمد، صنم لويک را نيارست شكستن، وانرا دران مركت بزمين اندر كرد وبتالو سيمينه درنهاد، كابلان ساه خجل اين بيت فرستاد بلستان خلجيه كه لويک كفت:

بزم كزن سحيد لويک لوى انو بويلا لوما
كسه تر ببرا غلوم بلوم مملا تيزيو بملا

خانان باز بكيش هندوان ساه شد، و جون نيسه او افلخ بشانى بنست محانه لويک بركند و مزلت بكرد.

جنين روايت كنند: جون سلطان سخى سرور باين مزلت شد كفت: "بوى صنم شنوم نيک ديد و كشف سدس، زمين بركافت و صنم لويک بركشيد، درمالوت سيمينه نهاده، انرا بشكست وسيم رابناى مسجد داد وبكرامت ان ولى الله، بوى كفر وهندوى از شهر غزنه برجاست" (ورق ۱۵ خطى)

څكه چي د دې كتابګوټي نوم ماته نه دى معلوم، او نه يې مؤلف څرګند دى، نو زه د موضوع په لحاظ دا كتاب

(کرامات سخي سرور) بولم، او هرځای چي (کرامات) یاد سي، مقصد به دغه کتاب او دغه حکایت وي.

## سپړنه

اوس د. دې حکایت یوه یوه کلمه سپړم، او تجزیه یې کوم:

۱. ابوحامد؟ دا کنیت ښکاره ویل کیږي، خو زه ابوحامد نه پېژنم چي څوک و؟ د رجالو او تاریخو په کتابو کښي ماته نه سو معلوم.

۲. دوهمه کلمه په اصل کښي (الراولي) ده، چي زما په خیال صحیحه (الزاولي) ده، "زاولٔ" یا زابل د غزني د سیمي قدیم نوم و، د الزاولي په نسبت ډېر مولفان او مشاهیر تېر سوي دي، مثلاً قاضي شهاب الدین دولت ابادي مشهور عالم او مفسر د عمرالزاولي لمسی و،[۴۶] او دا هغه قدیم زاول دی، چي د روزګان په ډېر لیک کښي هم راغلی دی، نو ابوحامدزاولی د زابلستان د سیمي سړی و.

۳. تاریخ غزنه؟ په دې نوم کوم کتاب ماته نه سو معلوم، د کتاب شناسۍ اکثره کتابونه ما وکتل، خو د تاریخ غزنه، په نامه کوم کتاب مولفانو نه دی ذکر کړی، او نه ابوحامدزاولي پېژني، ښایي چي دا یو نوم ورکی کتاب

[۴۶] سبحة المرجان ص ۳۹.



Digital Library



او مؤلف وي، چي د هند په مځکه کښي به لیکل سوی وي، ځکه چي حسن صغاني هم د هند یو مشهور عالم او ژبپوهاند و، چي شرح به یې وروسته ولیکم.

یو کتاب د تاریخ ملا محمد غزنوي په نامه پېژنم، چي شیخ عبدالرحمان بن عبدالرسوم چشتي (متوفی۱۰۹۲هـ) دغه کتاب درلود، او ده (۱۰۳۲هـ) پخپل کتاب "مرآة مسعودی" کښي له دغه کتابه اقتباسات وکړل، دی وایي چي ملا محمد غزنوي د سلطان محمود سره هند ته راغلی، او دغه تاریخ یې لیکلی دی.[۴۷]

دا شیخ عبدالرحمان چشتي د هند مشهور مؤلف او د "مرآة الاسرار او مرآة مسعودی" او نورو ډېرو کتابو خاوند او ثقه صوفي دی، چي دروغجن نه ښکاري، او د ده په وخت کښي لا هم تاریخ ملامحمدغزنوي موجود و، چي مرحوم محقق شیراني یې هم ذکر کړی دی.[۴۸]

مګر داسي ښکاري چي د ملامحمد غزنوي تاریخ به له دې تاریخ غزنه څخه بېل وي. ځکه شیخ عبدالرحمان چشتي تصریح کوي، چي ملامحمد د سلطان محمود معاصر و، یعني د (۴۰۰هـ) په شاوخوا کښي به ژوندی و، مګر دغه ابوحامد خو

[۴۷] پرشین لتریچر ۱۰۷۲ د ستوري تالیف، د لندن طبع.

[۴۸] تنقید شعرالعجم ص ۵۷ د دهلي طبع.

Digital Library



له حسن صاغاني څخه دا حکایت اورېدلی دی، او امام صاغاني د (۶۰۰هـ) د شاوخوا سړی دی.

۴. حسن صاغاني یا صغاني؟ د لاهور یو خورا لوی عالم او د عربي ژبي امام تېر شوی دی، د کرامات په اصلي نسخه کښي (صنعاني) لیکل شوی، او دا نسبت غلط دی، صحیحه املا یې صاغاني یا صغاني ده، چي د چغاني معرب دی. او دغه چغان یا چغانیان د آمو دریاب شمالي خواته یوه لویه سیمه ده.[۴۹]

امام حسن صاغاني (صغاني) په (۵۷۷هـ) په لاهور کښي زېږېدلی، او په غزني او بغداد کښي د علومو تحصیل کړی، او مخصوصاً په عربي ژبه کښي امام و، چي په عراق او مصر او حجاز کښي هم شهرت لاره، او ډېر مولفات لري، دی په (۶۵۰هـ) په بغداد کښي وفات سو، او قبر یې په مکه کښي دی، مشهور تالیفونه یې دا دي: کتاب الشوارد في اللغات، شرح القلادة السمطیه، کتاب المفتعال، کتاب العروض، مشارق الانوار، مصباح الدجي، الشمس المنیره، شرح البخاري، درة السحابه، کتاب الفرایض، العباب الذاخر چي یو عربي ناتمام قاموس دی.[۵۰]

(۴۹) حدود العالم، د تهران طبع.

(۵۰) سبحة المرجان ص ۲۸، تذکره علمای هند، ص ۴۸، بزم مملوکیه ص ۲۸





د کرامات په دغه حکایت کښي چي د حسن صغاني څخه رانقل سوی دی دا ثابتیږي، چي دغه کتاب پس له (۶۰۰هـ) تالیف شوی دی، ځکه چي دغه وخت د حسن صغاني د ژوند زمانه ده.

اما دا چي حسن صغاني د غزني په احوال خبر و، او د ده روایت به ثقه وي که یه؟ د ده خبره له دې سببه پخه ښکاري، چي امام حسن صغاني د خپل علمي تحصیل یوه دوره په غزني کښي تېره کړې، او د غزني په مدرسو کښي یې لوست کړی وو.[۵۱]

د امام صغاني یو ډېر مهم کتاب العباب دی، چي خطي نسخې یې په استانبول کښي دي، او یوه عکسي نسخه یې د کراچي د اسلامي تحقیقاتو په کتب خانه کښي هم سته، امام صاغاني په دې کتاب کښي د عربي لغاتو په مقابل کښي ځیني فارسي کلمات هم راوړي، او وایي چي په "لسان غزنویه" یې دا بولي یا دا، او ما په غزني کښي له خلکو څخه اورېدلي دي.[۵۲]

له دغو خبرو څخه ښکاري: چي امام صاغاني پخپله په غزني کښي اوسېدلی، او د دغه ښار په احوال او ژبه ښه بلد و، نو ځکه د ده روایت ثقه ګڼو.

(۵۱) وګورئ: د حسن صاغاني احوال، معارف اعظم ګرهـ، ۱۹۵۹م د مولوي عبدالحکیم لیکنه او معجم المطبوعات، ۲-۱۲۸.

(۵۲) د العباب د خطي نسخې عکس.

Digital Library



۵. برداب بامیان؟: دا کلمات هم کاتبانو مسخه کړي دي، زما په خیال یې صحیح دا دي: "بردرب بامیان" یعني د بامیان پر دروازه، چي د غزني ښار پخوا څلور دروازې درلودې، او یوه یې "باب البامیان" وه،[۵۳] داسي ښکاري چي د غزني شمالي دروازه "باب البامیان" یا "درب بامیان" بلله کېده، چي بامیان ته به له دغي دروازې څخه لار تله:

۶. مرلت؟ دا کلمه په دغه حکایت کښي لومړی پلا (مرلت) او بیا (مرکت) لیکلې ده، گمان کوم چي دواړه ډولونه یې غلط دي، او د نسخې د کاتبانو د ناپوهی له لاسه مسخه شوې ده، او اصل یې (مزگت) دی د (مسجد یست عظیم) له تعبیره هم دا ښکاري، چي دا کلمه اصلاً (مزگت) وه، او دوه نور شکلونه یې ممسوخ دي.

مزگت په قدیمه فارسي کښي د عربي (مسجد) په معنا راغلی دی، او ښایي چي مسجد هم د دغي کلیمې معرب وي، او د دې کلیمو ریښه هم د پښتو نمزدک او مزدک سره مشترکه ده،[۵۴] چي دا مزدک د پښتو په پخواني ادب کښي د مسجد په

(۵۳) احسن التقاسیم د مقدسي ص ۳۰۳.
(۵۴) شرح یې وگورئ: د پښتو ادب تاریخ ۱ تا ۶۹.





معنا و، او اوس هم د مروتو قبایل مزدک مسجد ته وایي[۵۵] اسدي طوسي د فارسي پخوانی لغت لیکونکی وایي: "مزگت بپارسي مسجد باشد".[۵۶]

۷. افلخ لویک؟ د کرامات د دې حکایت په استناد یو لوی مسجد د غزني د بامیان په دروازه کښي و، چي (مسجد افلخ لویک) یې باله، او دا مسجد لومړی پلا د افلخ نیکه (خانان) جوړ کړی وو، او د لویک له کورنۍ څخه لومړی پلا دغه (خانان) مسلمان شوي و، خو دی بیرته مرتد سو، او تر ده وروسته بیا د ده لمسی (نبسه) افلخ دا مسجد د غزني د بامیان په دروازه کښي جوړ کړ، او دا ځای دمخه بتخانه وه.

دا افلخ لویک، ظاهراً هغه افلح دی، چي د ده ذکر دمخه ما د زین الاخبار گردېزي په حواله وکړ، مگر د گردېزي په خطي نسخه کښي دا نوم افلح بن محمد بن خاقان راغلی دی، چي کنیت یې ابومنصور و.[۵۷]

له دې څخه ښکاري: چي د دغه افلح (افلخ) پلار محمد پوره مسلمان سوی، او اسلامي نوم یې و، مگر د محمد پلار

(۵۵) د مروتو کسرونه، ص ۸۶ د پښتو اکاډمی طبع.
(۵۶) لغت فرس ۵۱ د تهران طبع.
(۵۷) زین الاخبار، ص ۶.

Digital Library



خاقان (چي په دې حکایت کښي خانان راغلي دی) او لا بت پرست وو، چي بیا مسلمان، او وروسته بیرته مرتد سو.

که څه هم گردېزي دغه ابو منصور افلح د لویکانو له کورنۍ څخه نه دی بللی، خو د کرامات روایت دا ښکاره کوي، چي دی هم لویک و.

اما د دې "لویک" نوم د گردېزي په نسخو کښي افلح، او د کرامات د ناقصي نسخې په املا (افلخ) دی، ښایي چي د گردیزي ضبط صحیح وي، ځکه چي افلخ نه په عربي نه په پښتو او نه په فارسي کومه معنا لري، او نه داسي نوم بل ځای لیدل سوی دی، ښایي چي د دې کورنۍ د لومړي پلا اسلام قبلولو په مناسبت د ده نوم افلح اېښوول سوی وي، چي د عربي له "فلاح" څخه ریښه لري، او هم گمان کیږي، چي دا مسجد د غزني د اسلامي زمانې لومړی مسجد و.

٨. بیحانه؟ دا کلمه دوه واره بیحانه او محانه لیکلې شوې ده، چي غالباً بتخانه ده، قرینه یې هم وروسته د "صنم" کلمه ده، چي گویا دلته دمخه یوه لویه بتخانه وه، او هلته یو لوی بت هم و، چي هغه یې هم "لویک" باله "صنم لویک".

دا نکته مه هېروئ، چي په دغو زمانو کښي شاهانو د معبودانو رنگ موندلی و، او د دوی مجسمې او بتونه به په بتخانو او معبدو کښي پراته وه، د بغلان په اورتون کښي هم د





شاهانو بتونه او مجسمې ولاړې وې، او د روزگان له کتیبې څخه هم ښکاري چي پاچا، الهی القاب لرله، او خلکو د تقدس په سترگه ورته کتل، نو ښایي چي دغه بت هم د لومړي "لویک" و، چي یو قسم معبود گڼل کېده، او چي مسلمانان غالب سوه، او خانان یا خاقان مجبوراً مسلمان سو، ده به د خپل سلف بت نه سو ماتولای، نو یې په سیمین تابوت کښي هلته ښخ کړ، چي هم د بت شکنو مسلمانانو له لاسه محفوظ پاته سي، او هم یې خاوري ونه خوري.

٩. وحویر لویک؟ د کرامات په خطي ناقصه نسخه کښي داسي لیکلي دي: خو زه گمان کوم چي دا کلمه به (وجویر) وي، چي ښایي دا لویک به هم د کابلشاهانو او رتبیلانو معاصر او د دوی له خپلوانو څخه و، د دغه "لویک" په نامه اوس هم یوه لویه سیمه د غزني جنوب غربي خواته پرته ده، چي اجرستان یې بولي او منهاج سراج جوزجاني "وجیر" او "وجیرستان" لیکلې ده، چي په غوري دوره کښي د غوري سلطنت یو مشهور ولایت و،[٥٨] په غزنوي دوره کښي هم یوځای د غزني له سیمو څخه "هجویر" و، چي د کشف المحجوب لیکوال او مشهور صوفي علي بن عثمان هجویري غزنوي (متوفی حدود ٤٩٥هـ) هم دغه ځای ته منسوب و، او په کتاب کښي ځان مکرراً هجویري

[٥٨] طبقات ناصري ١ ص ٣٩٣، ٣٩٦، ٤١٦، ٤٣٦ وغیره د حبیبي طبع، کوټه.

igital Library



غزنوي بولي[59] او د شهزاده دا راشکوه په قول هجوير د غزني له محلاتو څخه و.[60]

نو (وجوير، هجوير، وجير) د يوه اوسني اجرستان مختلفي املاوي دي چي دا ځاى د وجوير لويک په نامه مشهور دى، او تراوسه هم سته، يا ښايي چي دغه نوم قديم وي، او دغه لويک ورته منسوب دى.

۱۰. بر حدمت رسل وکابلساه؟ دا کلمات هم مسخه سوي دي او صحيح ډول يې داسي و "بر خدمت رتبيل وکابلشاه" يعني وجوير لويک دغه بتخانه د کابلشاه او رتبيل لپاره جوړه کړې وه.

رتبيل د هغو شاهانو عمومي لقب و، چي د دوى سلطنت د عربو د فتوحاتو د وختو په لومړى هجري پېړۍ کښي له زابله تر سيستانه رسېدى، او د سبکتگين تر عصره يې دوه نيم قرنه مسلسل په دغو سيمو کښي د اسلامي لښکرو سره جنگونه کول.

داسي ښکاري چي د رتبيلانو او زاولي شاهانو او کابلشاهانو په منځ کښي خپلوي او دوستي وه، ځکه هغه وخت چي چيني سياح هيون تسنگ زابلستان ته راغى، نو کابلشاه له

(59) کشف المحجوب د لينن گراډ طبع.

(60) سفينة الاوليا، ص ۵۶ د هند طبع.





ده سره تر زابلستانه ولاړ، او بيا بيرته د خپل مملکت سرحداتو ته وگرزېد.

لکه کننگهم چي حسابلي دى، هيون تسنگ له هنده بيرته د اټک او بنو او اپوکين (افغان) پر لار غزني ته په ۲۵ جون ۶۴۳ع کال راورسېد[61] چي د هجري سني (۲۴هـ) کال دى، نو ښايي چي د غزني د لويکانو پاچهي هم د اسلامي هجري سنې په ابتدا کښي شروع سوې وه، چي د سبکتگين تر عصره (۳۶۵هـ) موجوده وه.

مگر د رتبيل کلمه مؤرخانو په ډول ډول رانقل کړې او د هر کتاب کاتب بيا هم پسي مسخه کړې ده: رتيل، رتپيل، رتبال، زنبيل، زنيل وغيره، چي د تاريخ سيستان او مجمل التواريخ محشي مرحوم ملک الشعراء بهار خراساني دغه کلمه د فارسي (زنده پيل) څخه جوړه شوې (زنتبيل يا زنبيل) شمېرلې ده.[62]

مگر روارتي وايي: دا نوم د هندي "رنتهبيل" يا "رتن پال" تصحيف دى[63] خو عربي مورخانو لکه بلاذري او يعقوبي او طبري او مسعودي دغه کلمه (رتبيل) ضبط کړې ده، چي د کليمې اصلي شکل هم دغه دى، او جمع يې رتابله ده. لکه

(61) د هند پخواني جغرافيه ۱ تا ۲۶۶.

(62) د تاريخ سيستان حواشي ص ۹۱ او د مجمل حواشي ص ۴۲۲.

(63) پر افغانستان ځيني يادابښتونه، ص ۶۳.

Digital Library



"قياصره" نمارده، کياسره، فراعنه، تراکمه، افاغنه او نور حتی دا نوم په عربو کښي هم مشهور و، د عربي شاعر فرزدق چي د رتبيلانو معاصر و، د سليمان بن عبد المالک په مدح کښي وايي:

وتراجع الطرداء اذوتقوا    بالامن من رتبيل والشحر[۶۴]

د دغه بيت په استناد دا نوم يقيناً (رتبيل) و، نه بل څه، چي وروسته عربو دا نوم د علم په ډول پر خپلو زامنو هم اېښود، مثلاً رتبيل بن صالح يو مشهور محدث و، چي د ده نوم زبيدی د قاموس په شرح کښي د "الرتبل" تر مادې لاندي راوړی دی[۶۵] او علامه ذهبي له ده څخه ډېر احاديث رانقل کړي دي.[۶۶]

له دغو رواياتو څخه ښکاري، چي د کلمې اصلي شکل هم (رتبيل) و نه بل څه[۶۷] ځکه چي (زنتبيل) په لوړ بيت کښي نه ځائيږي، او د قصيدې وزن ورخرابوي، او که يې (زنبيل) فرض کړو، نو بيا د "الرتبل" په ماده کښي نه راځي، بلکې دغو لغويانو د زنبيل ماده جلا راوړې، او هلته يې زنبيل کوم علم يا لقب نه دی ښوولی.

(۶۴) ديوان الفرزدق ص ۳۲۵، المعرب دجواليقي ص ۱۶۳.
(۶۵) تاج العروس، د الرتبل ماده.
(۶۶) مشتبه النسبه د علامه ذهبي.
(۶۷) تفصيل يې وګورئ: د دکتور بلوڅ مقاله، سروش کراچي، جون ۱۹۵۸م.





ګمان کوم: چي د دغي کلمې اخرنی جز (بيل) به لکه راورتي چي وايي، د هغه "پال" سره نژدې وي، او (رتپيل) به وي، ځکه د قديمو نومو د اخر "پال" له پالل څخه دی، خو پالل او پيلل دواړه د پښتو په لهجو کښي سته، او (رتو) هم په هندي نومو او هم په اوستا کښي ليدل کيږي.

په ګاتها کښي د روحاني مشر او بزرګ مينوي په معنا و، او د زرتشت لپاره هم د صفت په ډول استعمال شوی، او پخپله زرتشت هم ردجهان بلل سوی دی[۶۸] په فارسي کښي هم (رد) د هوښيار او خردمند په معنا و، فردوسي وايي:

بپوشيد درع سياوش رد
زره راګره پر کمر بند زد

او هم دغه کلمه ده، چي په سنسکريت کښي د ميني رب النوع او زهره ستوری او عشق او محبت ته وايي[۶۹]

په پښتو کښي د دې کليمې ريښه په راتو کښي سته، چي د ښځي نوم دی، يعني روحاني محبوبه، او مينوي معشوقه، او د نرو نوم راتګل همدغسي دی (رات = رت = روحاني مشر او محبوب) ګل هغه تاريخي کولا او کهول دی.

(۶۸) فروردين يشت ۱۵۲ بند.
(۶۹) د ډنکن فوربس هندي قاموس ص ۴۲۶.

Digital Library



معنا یې ده: د محبوب مشر له کهوله، خو ملایانو دا نومونه معرب کړي دي: راحتو؟ راحت گل؟

نو د دغه تاریخي لغوي تحلیل په سیوري کښې (رتپیل) ډېر ښکلی پښتو نوم دی، یعني د عشق پالونکي، مینه ورمشر، یا د میني د رب النوع پالونکی، او عربانو حق درلود، چې دا ښکلی ادبي نوم واخلي او پر خپلو زامنو یې کښیږدي.

۱۱. بسرش خانان؟ د کرامات حکایت د وجویر لویک زوی خانان بولي، او په ناقصه خطي نسخه کښې دا نوم خانان دی، خو د گردېزي د زین الاخبار په خطي دوو نسخو کښې چې اوس په لندن کښې دي، دا نوم لکه دمخه چې وویل سوه خاقان دی، په پښتو کښې د خاقان نوم نه دی رواج، مگر خانان ډېر دی، خاص بیا د رگون او راولسنان په ملاخیلو قبیلو کښې، ښایي چې کاتبانو خانان په گردېزي کښې خاقان کړی وي، چې یو مشهور نوم و.

په هر صورت خانان یا خاقان د "وجویر لویک" زوی و، چې لومړی پلا له دې کورنۍ څخه مسلمان سو، او د غزني د بامیان د دروازې بتخانه یې مسجد کړ، او د لویک بت یې هلته ښخ کړ، خو دی بیرته مرتد سو، په دې جمله کښې (بسرش) د فارسي (پسرش) دی.





۱۲. کابلان ساه؟ چې صحیح یې کابلان شاه دی، او دا د هغه کابلشاه یو بل شکل دی، چې کله کله په ځینې تاریخي کتابو کښې هم دغه شکل راغلی دی، مثلاً ابن خرداد به د شاهانو په سلسله کښې "کابلان شاه" هم یاد وي[۷۰]

۱۳. خجل؟ د کرامات په ناقصه خطي نسخه کښې دغسې لیکلي دي، او داسې ښکاري، چې دا له کابلشاهانو څخه د یوه نوم و، دا نوم د تامل وړ دی، چې اصل یې څه و؟ زه داسې گمان کوم، چې دا نوم (خنچل) و، ځکه چې پخوانو مؤرخانو هم دا نوم راوړی دی: احمد بن واضح یعقوبي (متوفي ۲۹۲هـ) لیکي، چې المهدي خلیفه په (۱۶۳هـ) کال ځینو شاهانو ته سفیران واستول، او دوی یې خپل اطاعت ته راوغوښته، چې اکثرو یې د المهدي اطاعت ومانه، یو له دغو شاهانو څخه ملک کابلشاه و، چې دی یې "حنخل" باله.[۷۱]

دا کابلشاه چې د (۱۶۳هـ) په حدود کښې ژوندی و، د یعقوبي په تاریخ کښې د ده نوم (حنحل) دی، چې د کرامات په نسخه کښې (خجل) لیکلی، او دواړه سره لیري نه دي، او داسې ښکاري، چې کاتبانو تصرف پکښې کړی دی.

(۷۰) المسالک الممالک، د ابن خرداذ به، ص ۱۷۰.

(۷۱) تاریخ الیعقوبي ۳ تا ۱۳۱ د نجف طبع ۱۳۵۸هـ.

Digital Library



لومړی توری په کرامات کښې (خ) او دوهم په یعقوبي کښې (ن) او دریم (ج) او اخرنی په دواړو کښې لام دی، نو له دې څخه (خجل) جوړېدای سي، چي زما په تخمین به دا کلمه اصلاً (خنچل) وي، ځکه چي په عربي او فارسي قدیمو نسخو کښې د (ج او چ) فرق په رسم الخط کښې نه و.

که دا نوم تجزیه کو، داسي به سي: خن چل، خن د خان مخفف دی، لکه په پښتو کلمه ختنما کښې، دا نوم په کاکړو کښې تر اوسه سته، خان + تما یعني د خان له تومني او پښته څخه، تما پخوانی کلمه ده، چي په اوستا کښې هم وه، لکه گئوتما (د گئو له تومني = بودا)(۷۲) او مرتم = مردم (مر - تما) یعني د مړو له تومني، چي په اوستا کښې هم (مرته) یعني مردنی و(۷۳) یا سپین تما چي د زردشت د کورنۍ نوم و.(۷۴)

دغسي نور ډېر کلمات سته چي په اخر کښې تما (تومنه، ختبه، کورنۍ) راغلي ده، نو ختنما هم د خان تومني او د خان له ختې او متکبر او مغرور او اصیل په معنا دی، د پښتو خانگل (خان + کهول) هم کټ مټ دغسي نوم دی.

پر دغه اساس د خنچل لومړی توته هم (خن) د خان مخفف دی، لکه چي ځني پښتانه خانمړي هم خنمړي او خانگل

(۷۲) د دکتور جولیوس کتاب بودا د ۱۹۰۵م طبع.
(۷۳) یشها ۲ تا ۴۲.
(۷۴) یسنا ۱۹.





هم خنگل بولي.

دوهمه توته يې (چل) ده، چي په پښتو طرز، سلوک، رفتار ته وايي، ملا میران کندهاري شاعر ويلي و:

نه په "چل"دعشق پوهيږي نه يې زده دی
لغوړن مچ دی بونیړي رقیب

نو "خنچل" يعني د لوړو عالي او خاني سلوک خاوند، چي داسي سړی حتماً باید پښتون او پښتو ژبی وي.

۱۴. بلسان خلجیه که لویک گفت: دا لویک نه دی معلوم چي نوم يې څه و؟ خو داسي ښکاري چي خنچل کابلشاه، دا بیت د "لویک" له خولې راالېږلی دی، او ښايي چي دغه "لویکٔ" له خنچل سره په کابل کښې و. ځکه چي د دې دوو کورنیو خپلوي په تاریخي روایانو کښې دمخه ثابته سوه، نو ممکنه ده، چي دا "لویک" هم د خنچل خپل وي.

اما دلته د غور خبره دا ده: چي "لسان خلجیه" کومه ژبه وه؟ زما سره ډېر تاریخي او ژبني دلایل سته چي خلجي دغه اوسنی غلجي دی، چي له قدیمه د غزني په غرو او رغو کښې اوسي، او د زاولستان پخواني خلک دي، دلته به زه په لنډه یوځو دلیله راوړم چي دا خبره لږ څه ښکاره سي:

خلجي او غلجي یا غلزي په اصل کښې (غرزي =

Digital Library



کوهزاد)[۷۵] یعني د غرو خلک، چي دا کلمه په غرج، غرچه، او غلچه او نورو ډېرو تاریخي کلماتو کښي سته، او کله (غ) په (خ) هم اوړي، او غلجي، خلجي سي.

د هند "خلجیان" چي په پېړیو یې هلته سلطنت کړی دی، دغه پښتانه غلجیان وو، د دوی په نوم ډېر ځایونه هم سته، لکه: خلج (په روزګان کښي) خلج (د هلمند د ناوي)[۷۶] خلج (د غزني) چي یاقوت هم په معجم البلدان( ۲ تا ۳۸۱) کښي خلج غزني ته نژدې د زابلستان له سیمو څخه ښودلی دی.

د قبایلو او ځایو په نوموکښي کله (خ) په (غ) اوړي لکه خرخیز - قرغیز او دغور اوسنی ساغر، چي منهاج سراج ساخر ضبط کړی دی، او اصلاً "سورغر" و.[۷۷]

دا خبره چي خلجیان د چنګېزخان د زوم خالج خان له نسله دي، او محمدقاسم فرشته د نظام الدین احمد بخشي هروي له طبقات اکبري رانقل کړې ده[۷۸] تاریخي صحت نه لري، ځکه دا نا ممکنه ده چي پس له (۶۲۰هـ) د چنګېزخان له

[۷۵] د شاهنامې په ملحقاتو کښي د کک کوهزاد حال سته، چي د دغو افغانانو مشر و، او دوی د زابل د سیمو په غرو کښي پراته وو، دغه کوهزاد کټ مټ د (غرزي) فارسي ترجمه ده. (د شهنامې ملحقات ج۵، ص ۳۳)

[۷۶] دا خلج، اصطخري هم د هلمند په ښارو کښي یاد کړی دی (اصطخري، ص ۲۴۵)

[۷۷] طبقات ناصري ۱ تا ۳۸۷ د حبیبي طبع، کوټه.

[۷۸] تاریخ فرشته ۱ تا ۸۸.





عصره بیا تر اوسه په (۶۰۰) کاله کښي د یوه سړي له نسله په میلیونونو خلک او قبایل پیدا سي.

خلجیان یا غلجیان خو دړې قرنه تر چنګېز دمخه په دغو ځایو کښي ساکن وو، او ډېر شهرت یې لاره، د حدودالعالم مؤلف په (۳۷۲هـ) کښي وایي: "د غزني په اطرافو کښي خلج، ترکان (دا کلمه غلطه چاپ شوې ده خلخ) پراته دي. او تر بست او ګوزګان او بلخ او تخارستانه پونده دي، او ورشوي او د څرځایونه او ډېر پسونه لري".[۷۹]

تر ده دمخه بل اسلامي جغرافیاوال ابن خرداذ به (۲۳۰-۲۳۴) هم د خلجیه نوم اخلي، او وایي چي خرلخ تورکان طراز ته نژدې د ژمي هستوګني لري، او هم دوی ته نژدې د خلج (خلجیه) د ژمي ورشوي دي.[۸۰]

ابراهیم بن محمد اصطخري (۳۴۰هـ) وایي:

"خلج یوه ډله تورکان وو، چي خورا پخوا د هند او سیستان تر مینځ د غور شاته راغلهه، پسونه یې لرل. کالي او ژبه او کړه وړه یې لکه د تورکانو داسي وو"[۸۱]

ځیني مستشرقان په دې عقیده دي، چي دغه غلجي د هفتالیو بقایا دي، مارکوارټ وایي: "خلج یا خولچ د هفتالیو

[۷۹] حدودالعالم، ص ۶۴ د تهران طبع.

[۸۰] ابن خرداد به، ص ۲۸.

[۸۱] اصطخري، ص ۲۴۵.

Digital Library



قبائيلو پاتي برخي دي، چي په شامي کتابو کښي په (۵۵۴م) Khwlas راغلي"[۸۲] او بيا په (۵۶۹ع) کال سفير ريمرچوس دغه کلمه خو لير راوړي ده. او دا نظريه موږ کټ مټ د محمد بن احمد خوارزمي په کتاب کښي (۳۷۰هـ) هم وينو، دی وايي: خلج او کبجيه[۸۳] تورکان (دا کلمه غلطه کنجينه چاپ شوي ده) د هياطله له پاتيشونکو څخه دي، چي په تخارستان کښي دشان او شوکت خاوندان وو.[۸۴]

دا خلجيان له افغانانو سره يوځای مؤرخانو ياد کړي دي، او داسي ښکاري چي دوی ډېر سره نژدې او يو قام وو، ابو نصر محمد بن عبدالجبار عتبي (۴۱۵هـ) د سبکتګين په فتوحاتو کښي ليکي: "افغانيه او خلج ده ته ايل او په زور يې په خدمت کښي داخل کړه سوه"[۸۵] چي ابن اثير هم کټ مټ دغه روايت راوړی دی.[۸۶]

[۸۲] ايرانشهر، تر ۲۵۱ وروسته.

[۸۳] دا د بيهقي کېچي او د منهاج سراج کوچي، او د عربو قفص، او د شاهنامې د ملحقاتو کوچ، او د ارمني مؤرخ موسس کلن کتوتس: کمچک هفتاليت، او اوسني کوچي دی.

[۸۴] مفاتيح العلوم، ص ۷۲

[۸۵] تاريخ يميني، ص ۲۶.

[۸۶] الکامل، ۸ تا ۳۴۸.





مينارسکی په صراحت سره وايي: دغه خلج تورکان او د اوسنيو غلجو افغانانو اسلاف وو، او بارتولد او هيګ هم په اسلامي انسائيکلو پيډيا کښي دغسي ويلي دي.[۸۷]

دا خبره يقين ته نژدې ده: چي خلجي يا غلجي او ابدالي به له پخوانو هفتاليانو او زابلي پاچهانو سره نژدېوالی لري، ځکه چي دغه هفتاليان (هياطله) هم په دغه زابلستان کښي چي اوس هم غلجي او ابدالي اوسي، پاچهان وو، او پر سکو، چي د دې پاچهانو شکلونه کښل سوي دي، هم کټ مټ د دغو اوسني پښتنو کره وره ته ورته دي، جګي پزي، غټي سترګي، ګڼ وېښتان، قوي بدنونه يې عيناً د پښتنو دي، او لکه ميسن چي ليکي: د نورستان پخوانو کافرانو مطلق پښتانه پخپله ژبه اودل Odal بلل، چي دا کلمه هغه هفتل (ابدالي) ده (د ميسن سفرنامه، صفحه ۸ جلد ۱ طبع لندن ۱۸۴۲ع) احمدشاه ابدالي وايي:

تولـه يـو دي کـه غلجـي دي کـه اودلي
ښـه هغـه چـي آئينـه د زړه صـفا ده

نو خلج يا غلجي د هغو تورکانو او غزانو له نسله نه دي، کوم چي په غزنوي دوره کښي او بيا د سلجوقيانو په زمانو کښي خراسان ته راغلي وو، بلکې تر اسلام دمخه چي کوم

[۸۷] د مينارسکي حواشي پر حدود العالم، ص ۳۴۸ د اکسفورډ طبع.

...he Digital Library



هفتالي اريائي اقوام په تخارستان او زابلستان کښي وو، زمونږ غلجيان به دهغو سره خپلوي لري، او د دې غلجو حملې پر هند د هفتاليو سره شروع سوي، او تر (۸۰۰هـ) پوري دوام لري، چې د دوی غښتي شاهنشاهي هم په هند کښي وې، او اسلام يې تر بنګاله خپور کړی و، او د دوی له نومو سره د (خان) لقب هم د (هون) د کليمې اوښتی شکل دی، ځکه چې (هـ) په (خ) اوړي لکه قديم هوارزم، اوسنی خوارزم، د تورکو هانم او زمونږ خانم.

د دې خبرې لپاره هم مونږ تاريخ سندونه لرو: مثلاً د تورکو معروف لغوي محمود کاشغري (۴۶۶هـ) ليکي:

"غزان ۲۴ قبيلې دي، مګر د "خلجيانو" دوې قبيلې په دوی کښي ځانونه نه شميري او بيلې دي".[88]

همدغه مؤرخ د تورکانو په قبايلو کښي د "خلج" يا خلجيانو ذکر کورتې نه کوی، او ځکه چې دی پخپله تورک او په ژبه او عنعناتو يې پوه و، نو د ده قول په دې بابت کښي مستند او قديمتر دی.

محمد بن نجيب بکران (د ۶۰۰هـ حدود) داسي ليکي:

"خلج قومی ازترکان از حدود خلج بحدود زابلستان افتادند ودر نواحی غزنين صحرا يست آنجا مقام کردند، پس بسبب گرمی هوا، لون ايشان متغير گشت وبسياهی مايل شد

(88) ديوان لغات الترک ۳ تا ۳۰۷.





**وزبان نيز تغير پزيرفت ولغتی ديگر گشت، وخلج را مردمان به تصحيف خلج خوانند".[89]**

له دې څخه ښه ښکاري، چې دغه خلجيان له تورکي قبايلو څخه په دغه وخت کښي بېل وو، او د خلخ او خلج تر مينځ التباس او تصحيف موجود و، منهاج سراج هم طبقات ناصري کښي د خپل عهد ډېر ملوک په هند کښي ښيي خو هغه چي تورکان دي، هغه ترک بولي، او هغه چي خلجيان دي، خلجي يې بولي، چي د غور له ګرمسيره هلته تللي او پادشاهي يې جوړي کړي وې، لکه ملک خان خلج، محمد بختيار خلجي، محمد شيران خلجي، علي مردان خلجي، حسام الدين عوض حسين خلجي، عياث الدين خلجي[90] او ډير نور خلجي مشاهير چي له ترکانو بېل وو، حتی ضياء برني د هند مؤرخ (د ۷۵۸هـ حدود) پخپل تاريخ فيروز شاهي کښي يو خاص فصل لري، چي بايد شاهي د تورکانو وي، خو هغه وخت چي ملک جلال الدين خلجي د دهلي پر تخت کښېنوست، نو دی ليکي: چي خلک ډېر متاثر وو، چي څنګه يو خلجي د تورکانو پر تخت کښېنستلای سي؟ دلته داسي ليکي:

**"ملک خلجيان شهريان را بغايت دشوار نمود"[91]**

(89) جهان نامه، ورق ۱۷ خطي، د مينارسکي په حواله.
(90) طبقات ناصري ۱ تا ۴۹۵ وروسته، د حبيبي طبع، کوټه.
(91) تاريخ فيروز شاهي، ص ۱۷۳ د کلکتې طبع.

Digital Library



له دغي خبري څخه هم دا ښکاري: چي خلجیان، تورکان نه وو، که نه وي نو ولي به خلکو د تورکانو د تخت و تاج پر ضیاع افسوس کاوه[۹۲] بلکه دغه خلجیان چي په هند کښي د مدنیت او سلطنت یو ښکلی اثر پر اېښی دی، په اصل او نسب د افغانستان له غلجیانو څخه وو.[۹۳]

بارتولډ وایي:

"له څلورمي هجري پېړۍ څخه مو،ږ خلجیان د افغانستان په جنوب کښي د سیستان او د هند تر منځ وینو، او دوی د هغو ترکانو پښتانه شوي بقایا دي، چي د اصطخري په قول په قدیمو زمانو کښي دلته راغلي وو، او دغه اوسني پښتانه غلجي چي د ترنک او ارغنداو په لوړه وادي کښي اوسي، هم له دغه نسله دي".[۹۴]

نو دغه تورکان چي په قدیمو زمانو کښي زابل ته راغلي وو، هغه هفتالیان (هیاطله، هون) وو، چي یو نیم زرکاله دمخه له پښتنو سره ګډ، او دلته د پښتنو د اکثریت په سبب بالکل پښتانه سوي وو، او کوم وخت چي دوی په هند کښي سلطنتونه جوړ کړل، بالکل پښتانه وو، او پښتنو دغه خپل خلجي ګڼل،

---

[۹۲] خلجیان تورکان نه وو، د دې تفصیل وګورئ د هند د تاریخ د کانګرس رویداد ۱۹۳۹م.

[۹۳] تذکره بهادران اسلام ۲ تا ۳۳۱.

[۹۴] اسلامي انسائیکلو پیډیا، ۳ تا ۸۷۶.





مثلاً: خوشحال خان خټک، سلطان جلال الدین خلجي (۶۸۹-۶۹۵هـ) په صراحت سره غلجی ګڼي او وایي:

بیا سلطان جلال الدین پر سریر کښیناست
چي په اصل کښي غلجی د ولایت و[۹۵]

له دغو ټولو تاریخي اسنادو څخه دا ثابتیږي، چي خلجیان پښتانه وو، او دغه اوسني د غزني دغرو او رغو غلجیان دي، چي د جهان نامي د مؤلف په قول یې ژبه هم بېله وه، او هغه نو دغه پښتو ده، چي تراوسه هم د ټولو غلجو ژبه ده، او د کرامات په دغه حکایت کښي هم "لسان خلجیه" بلله شوې ده، او د دغه "لویک" ژبه هم پښتو وه، ځکه چي دغه بیت پښتو دی، او وروسته به یې ولولئ:

۱۵. هندوان ساه؟ دا کلمه هندوان شاه ده، په پهلوي او قدیم فارسي ادب کښي هندوان، هند ته ویل کېده[۹۶] د شاهنامې[۹۷] په ملحقاتو کښي چي د زابلي افغانانو او د دوی د مشر کک کوهزاد قصه راغلې ده، داسي وایي:

---

[۹۵] د خوشحال خان خټک کلیات ص ۶۶۹، د حبیبي طبع، کندهار.

[۹۶] سبک شناسي ۲ تا ۲۷ د تهران طبع.

[۹۷] دا ملحقات د فردوسي نه دي، بلکه کوم بل شاعر پس له (۶۰۰هـ) په شاهنامې پوري نښلولي دي. خو قصې یې بالکل له تاریخي اصالته خالي نه ښکاري.

که نزدیک زابل بسه روزه راه — یکی کوه بد سر کشیده بماه
بیکسوی او دشت خرگاه بود — دگردشت زی هندوان راه بود
نسته دران دشت بسیار کوچ — زافغان ولاچین وکرد وبلوچ (۹۸)

دلته مقصد دغه د ارگون او وازي خوا لوی دښت دی، چي د هند خوا ته د گومل او کورم له درو څخه لاري وې، او کوچ هم هغه کېچي او کېجینه دی، چي تراوسه هم غلجیان کوچي بلل کیږي، او دوی کیږدۍ (خرگاه) له دغه دښته د اباسین غاړو ته په ژمي کوچ کوي.

ابو منصور موفق بن علی هروی (د ۳۶۰ه حدود) وايي:
"وآن دیگر داروها کی به هندوان موجود است، ازاین دیگر اقلیمها نیابند"(۹۹)

نو هندوان شاه، د هندوستان شاه و.

۱۶. نیسه؟ دا کلمه نبسه ده، چي اوس یې په فارسي نواسه او په پښتو لمسی، نمسی، نوسی بولي، بیهقي د دغي کلمې مفرد نبسه او جمع یې نبسگان راوړي(۱۰۰) د یوه زاړه فارسي تفسیر په خطي نسخه کښي چي په کیمبرج کښي سته، هم نبسه راغلې ده "و اورا فرزند دا دیم ونبسه برسر" (ورق ۳۴ب) فخر مدبر مبارکشاه لیکي:

(۹۸) د شاهنامې ملحقات، ج۵ ص ۳۳، د تهران طبع.
(۹۹) الابنیه عن حقایق الادویه، ص ۱ (خطي).
(۱۰۰) تاریخ بیهقي، ص ۲۲۱ تا ۶۷۳ د تهران طبع.



Digital Library



"سند نبال نبسه شاه کابل از پایان هندوستان باز آمده بود".(۱۰۱)

امیر خسرو وايي: صفت ذات او همین نه بس است، که رسول خدای رانبس است.

ځکه چي افلح د گردیزي په قول، د خاقان (خانان) لمسی و، نو دا لکمه حتماً نبسه ده، او د اصل (نیسه) معنی نه لري، او د بیهقي له استعماله هم ښکاري، چي په غزني کښي مروجه وه.

۱۷. بشاني بنست؟ دا جمله غالباً داسي ده: بشاهي بنشست، یعني پر شاهي کښېنوست، او شاهي په پهلوي او لومړنۍ فارسي کښي د سلطنت او مملکت په معنا هم و.(۱۰۲)

وروستني کلمات داسي دي: بتخانه لویک برکند و مزگت بکرد، یعني د لویک بتخانه یې ورانه کړه، او پر ځای یې مسجد جوړ کړ.

۱۸. سلطان سخي سرور: دا سړی د هند او پنجاب په سیمو کښي ډېر شهرت لري، او د مشهورو اولیاؤ په ډله کښي شمیرل کیږي، مفتي غلام سرور لاهوري لیکي: د ده نوم سید احمد او مشهور په سخي سرورسلطان و، د ملتان له ولیانو څخه دی،

(۱۰۱) آداب الحرب والشجاعه، ص ۲۸ د لاهور طبع.
(۱۰۲) سبک شناسي ۱ تا ۴۲۹.

Digital Library



چي خلک يې "لکهٔ داتا" بولي، او نسب يې حضرت علي (کرم الله وجه) ته رسيږي، د پلار نوم يې سيد زين العابدين و، چي د ملتان په کرسۍ کوټ کښي ساکن و، او د عايشې کهوکهري سره يې واده وکړ، او سيد احمد او عبدالغني دوه زامن ځني پيدا سوه، دغه سيد احمد په بغداد کښي د حضرت عبدالقادر جيلاني(رح) او شهاب الدين سهروردي(رح) حضور ته ورسيد، او بيا يې په لاهور کښي له محمد اسحاق لاهوري څخه علوم ولوستل، وروسته مفتي لاهوري د ده کرامات شميري، او د شهادت تاريخ يې د شاه کوټ د غره سره چي اوس يې مزار هم هلته دی په (۵۷۷هـ) ګڼي.[۱۰۳]

دا سيد احمد د خپل روحاني سطوت او شکوه له رويه په "سلطان" مشهور سوی و، دی پسله شيخ علي هجويري د هند په خاوره کښي د اسلام خورا لوی مبلغ دی، حتی چي د هندوانو قبايل په جالندهر کښي خپل ځانونه تر اوسه هم "سلطاني" او ده ته منسوب بولي[۱۰۴] او په عيسوي پنځلسم او شپاړسم قرن کښي دغه سلطاني فرقه ډېره مشهور وه. او د پنجاب جاټ ټول سلطاني وو، چي دوی به د فروري په منځ کښي د سخي سرور زيارت له، ډېره غازيخان ته راتله. خو د سکهانو د حکومت په وختو کښي ديوان ساون مل د ملتان حاکم دوی منع کړل، تر

[۱۰۳] خزينة الاصفيا ۲ تا ۲۴۸.

[۱۰۴] د جالندهر ګزتير، ص ۱۲۱.





نولسمي پېړۍ پوري چي د لودهياني او جالندهر ګزتير ليکل کېدی، دغه سلطاني هنود موجود وو.[۱۰۵]

دا سخي سرور چي د حضرت عبدالقادر جيلاني رحمه الله عليه (۴۷۰ - ۵۶۱هـ) او د شيخ شهاب الدين سهروردي (۵۳۹ – ۶۳۲هـ) معاصر بلل سوی دی، په هغو سيمو کښي چي دخراسان د خلکو د تګ او راتګ لاري وې، يعني په ملتان او ډېره غازيخان کښي اوسېد، نو ځکه پښتانه هم د ده مريدان وو، او ښايي چي دی پخپله هم د لوست لپاره، غزني ته راغلی وي، ځکه چي دغه وخت د غزنويانو دوره وه، او غزني د علم ثقافت او تصوف مرکز و.

د کرامات د دغي ناقصي نسخې څخه ښکاري، چي دغه کتاب خاص د ده پر کراماتو ليکلي سوي و، او ټول حکايات يې هم د ده په خوارقو اړه لري، چي يو مثال يې دغه موجود حکايت، او د غزني په مسجد کښي د "لويک" د بت کشف کول او له مځکي څخه را ايستل دي.

۱۹. باين مزلت؟ دا کلمه هم يقيناً مزګت ده، مزلت معني نه لري.

۲۰. کشف سدس؟ دا کلمه شدش ده، يعني ده ته کشف سوه.

۲۱. درتالوت؟ صحيح ډول په اوسني املا ولولئ:

[۱۰۵] آب کوثر، ص ۹۱.

۲۲. از شهر غزنه پرجاست؟ برجاست دلته معني نه ورکوي، دا کلمه برخاست ده، اوس دا حکایت په صحیح ډول په اوسنۍ املا ولولئ:

"ابوجامد الزاولي را درتاریخ غزنه، از حسن صغاني روایت است: که در بلده غزنه بر درب بامیان مسجد یست عظیم، که آنرا مزگت افلخ (افلح؟) لویک خواندندی، و این بتخانه عظیم بود، که وجویر لویک، برخدمت رتبیل وکابلشاه کرده بود.

چون پسرش خانان (خاقان) به مسلمی آمد، صنم لویک را نیارست شکستن، وانرا دران مزگت بزمین اندر کرد، وبتابوت سیمینه دِرنهاد.

کابلان شاه خنچل، این بیت فرستاد بلسان خلجیه، که لویک گفت:[۱۰۶]

خانان (خاقان؟) باز هندوان شاه شد، و چون نبسه او افلخ (افلح؟) بشاهي بنشست، بتخانه لویک برکند و مزگت بکرد. چنین روایت کنند:

چون سلطان سخي سرور، باین مزگت شد گفت: بوی صنم شنوم، نیک دید و کشف شدش، زمین برکافت و صنم لویک برکشید درتابوت سیمینه نهاده، انرا بشکست وسیم را (به) بنای

[۱۰۶] د دې بیت صحیحه املا او معاني به وروسته راشي.





مسجد داد، وبکرامت آن ولی الله، بوی کفر وهندوئی از شهر غزنه برخاست. (ورق ۱۵ خطي)

## د خلجي ژبې پښتو بیت

اوس به دغه د "لسان خلجیه" د بیت الفاظو ته ځیر شو، گمان کوم چې دا پښتو دې داسې:

په زمي گزنه ښخید لویک لویانو بویله لویا
کښه تور به براغلوم (بلوم؟) مملمه تیزیو په ملا

د دې بیت هره مصرعې پنځلس هجاوي لري.

| ۱ | ۲ | ۳ | ۴ | ۵ | ٦ | ۷ | ۸ | ۹ | ۱۰ | ۱۱ | ۱۲ | ۱۳ | ۱۴ | ۱۵ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| په | زمي | گز | نه | ښه | خید | لو | یک | لو | یا | نو | بو | یله | لو | یا |
| کښه | تور | به | برا | غل | وم | به | لوم؟ | مم | له | تی | ز | یو | په | ملا |

په اوسنۍ املا داسې کیږي:

په زمي غزنه ښخید لویک لویانو بایله لویا
کښه تور به براغلوم (بلوم؟) مملمه تازیو په ملا

د کلماتو تحلیل:

۱. زمي: دغه اوسنۍ مځکه او د فارسي زمین ده، دا کلمه عیناً په فارسي پخواني ادب کښې په دغه شکل سته، فخرالدین گرگاني (۴۴۶هـ) وايي:

Digital Library



چو این مایه نبودی رستنی را
نبودی جانور روی "زمی"را[۱۰۷]

نظامي وايي:

اساسیکه د آسمان و"زمی"است
باندازه قدرت آدمی است

اسدي طوسي (متوفي ۴۶۵ه) وايي:

زمین جای آرام هر آدمی است
همان خانه کردگار "زمی" است[۱۰۸]

په اوستا کښي زم (مځکه) او په پهلوی زمیك د اسمان په مقابل کښي و[۱۰۹] او زمیاد د مځکی او ودانی پرښته وه[۱۱۰] داسي ښکاري چي زمی پخوا په پښتو کښي هم وه، چي وروسته زمکه یا مځکه د پهلوی، زمیك، ته نژدې ځني جوړه سوه.

۲. گزنه: په اصل کښي (کزن) ده، چي د گزنه = غزنه ناقصه املا ده دا کلمه په سغدي ژبه (گزنك) او د معاني په

(۱۰۷) ویس و رامین ۳.
(۱۰۸) فرهنگ دهخدا، ص ۶۶.
(۱۰۹) یشتها ۸، ۱۳، ۹۵
(۱۱۰) مزد یسنا و ادب فارسي، ص ۴۳۲.





کتابو کښي گزن او معنا یې خزانه ده[۱۱۱] او په سنسکریت کښي کجن یا جگن وه، چي عربو هم دغه کلمه معربه کړه، ابو منصور موهوب بن احمد بن محمد الخضر جوالیقی (۴۶۵ تا ۵۴۰ه) لیکي: الکنز: فارسی معرب و اسمه بالعربیه مفتح،[۱۱۲] نو د عربي کنز د فارسی گنج معرب شکل دی[۱۱۳] چي قدیم شکل یې گزنه = گنزه = غزنه و.

په فارسي کښي مرغوزن یا مرغزن (گورستان) ته وايي، او دغه قدیمه ریښه لري (مړ + غزن = خزانه مردگان = گورستان چي دا کلمه په هراتي فارسي کښي وه،[۱۱۴] امامي هروي وايي:

آن جهانداری که گشت اندر نبرد
مرغزار از زخم تیرش، مرغزن

منو چهری وايي:

وقت صلحش کس نداند "مرغزن"
از مرغزار وقت خشمش کس نداند

(۱۱۱) سلطنت غزنویان ۳۵۷ د پروفیسر بن ونیست په حواله.
(۱۱۲) المعرب من الکلام الاعجمي، طبع دارالکتب المصریه ۱۳۶۱ه.
(۱۱۳) سواء السبیل الی معرفته المعرب والدخیل، طبع لاهور ۱۹۰۳ه.
(۱۱۴) طبقات الصوفیه، ص ۲۱۳ خطي.

Digital Library



مرغزار از مرغزن،[115] نوګزن = غزن: مجمع او مخزن ته وايي، چي د غزنه قديم نوم ګزنه په پښتو کښي و، او دا يې ځکه ګزنه باله، چي په دې کوټ کښي به تل د شاهانو خزانې محفوظې وې، او غزنه د ګزنه د کليمې وروستني لغوي تحويل دی.

۳. سحيد لويک؟ دا کلمه هم د "لويک" بت د ښخولو او مځکي کينلو (کافت) په قرينه، چي په دې حکايت کښي ذکر شوی دی، د پښتو (ښخيد) ده، له ښخ او ښخول ځخه چي د مفرد غايب صيغه ښکاري، او اوس مونږ وايو (ښخ سو) ګمان کوم چي د (ښخيدل) مصدر پخوا پخپله مستقيم مشتقات درلوده، او (ښخ کيدل) د ژبي د وروستني فتور نخښه ده - او د صيغې اخير (يد) د فارسي له هروي لهجې سره ډېر نزدې دی. چي پخوا د مفرد غايب لپاره راتئ: مثلاً وی نان خورديد (وی نان خورد)احمد استاد محمود ايد (احمد استاد محمود است).

نو ښخيدلويک هم دغه معنا لري: ښخ سو لويک، د خواجه عبدالله انصاري په طبقات الصوفيه کښي چي په هروي لهجه دی، ډېر داسي مفرد غايب صيغې سته[116]

(115) ديوان منوچهري، ص۶۶.

(116) د طبقات الصوفيه فرهنګ د حبيبي ليک.





۴. لوی انو: په اوسنی املا (لويانو) ده، له دې ځخه هم ښکاري، چي د (لويک) د کلمې ريښه هم (لوی) وه، او پښتنو دوی (لويان) هم بلل، دا کلمه اوس هم سته، مثلاً: د کلي مشران او لويان سره راغونډ شول.

کريم داد وايي:

پر غريبو چي تېری کا
لوی د نشي هسي لوی

۵. بويلا: دا هم د اوسني (بايله) قديم تلفظ دی، بايلل او بويلل (باختن) په يوه معنی دي، تر اوسه د غرو پښتانه (بويلا) وايي يعني (باخت)، او دا د پښتو د لهجو اختلاف دی، چي د ږغېږو توريو Vowels په ويلو کښي لري، او لکه چي ما دمخه وويل: په قديمو نښانو کښي د مسيدو او وزيرو او اپريدو د لهجو او ادا ډېر اثار ښکاري، بويلا (بايلوله، بايلو، بايله) ماضي صيغه ده، چي په فارسي (باخت) ورته وايي.

۶. لويا: اوسني لوی، د هغه لوی له ريښې ځخه پر قديم ډول اسم حالت دی، پخوا داسي کلمات ډېر وو، خو اوس لږ دي، مثلاً اوس مونږ خندا، ژړا، رڼا، نڅا وايو، خو ځغلا، شنړا، ځلا، زرغا، زلما، ښکلا، ملا نه وايو، حال دا چي دغسي ډېر کلمات په پخوانۍ پښتو کښي

Digital Library



وو، او پــه پخوانــو اشــعارو کښــې مســتعمل دي[۱۱۷] وګورئ په لومړی مصرعی کښې لويان، لويا دواړه له يوې ريښې دي، او دا ثابتوي، چې د (لويك) لقب هم له دغې ريښې څخه راوتلی دی.

۷. کسه تر؟ دا کلمه کشا تر = کښه تور وه، لومړی توته يې کښه له کښل څخه ده، او دوهمه کلمه (توره) ده، چې په ترکيب کښې (هـ) حذفيږي، لکه تورن، توريالی.

د توري کلمه په قديمو نومو کښې خورا ټينګه ريښه لري، لکه دمخه ذکر شوي (تورامانا = تورمن) او تروجن پال (تورجن پالونکی) او کشتريه چې په سنسکريت او زړه پارسو او سغدي او اوستا کښې عموماً د پاچا او حکمران او جنګي او توريالي په معنا وه، او د شاه، شار، کشور کليمې هم له دغې څخه راوتلي دي او د پير روښان په خيرالبيان کښې (تورکښ) راغلې ده.[۱۱۸]

سر الکسندر برنس Burnes تر ۱۸۳۶ع کال دمخه د اباسين په هند (پخواني ويهند) کښې پر سنګ مرمر يوه سنسکريت کتيبه موندلې وه، چې يو غوښي خوړونکی قوم تورکښ Turshcas پر دې سيمه مسلط و.

[۱۱۷] پته خزانه، ص ۲۳۴-۲۳۹.

[۱۱۸] شرح يې وګورئ: د پښتو ادبياتو تاريخ ۱-۶۵ د حبيبي ليک





دا ليک يوه برهمن "سري تلکه" Seri Tillaka کښلی دی[۱۱۹] او داسې ښکاري چې دا غوښي خوړونکي تورکښان هغه هفتاليان (هونان) وو، او دوی يې د دلاوری او توريالي توب په سبب تورکښ = کښه تور = کشتريه بلله، چې په دې پښتو بيت کښې کټ مټ دغه کلمه راغلې ده، او کشتريه او کښن تور يا تورکښ د لښکري او عسکر په معنا له قديمه په پښتو ادب کښې موجود وو.

۸. ببراغلوم: دا کلمه غالباً (به براغلوم) ده، چې د بيت د هجايي وزن په تجزيه کښې (برا - غل - وم) ويله کيږي، او بايد مصدر يې براغلول وي، يا براغلل وي، له موقع داسې ښکاري چې براغلول به د فارسي له (آغال، براغلل، براغليدن) سره يوه لري، اسدی طوسي ليکي:

آغال چنان باشد که کسی رابر کسی طيره کنند تاتند شود، آن فعل را آغالش خوانند، وسگ را که بر مدم جهانند، بر آغليدن گويند، فرالاوي گفت:

[۱۱۹] د دې کتيبې انګريزي ترجمه وګورئ: کابل د لندن طبع ۱۸۴۲م ص ۱۲۰-۱۲۱ چې اصلي ډبرليک، برنس د ايشياټک سوسائيټي د کلکتې موزيم ته وړی و.

من زَ "آغالشت" نترسم هیچ
وربمن شیر "رابر آغالی"[120]

دا مصدر په فارسي کښي برغلانیدن او ورغلانیدن هم راغلی دی، چي اوس یې په پښتو ښکارل یا پارول بولي، او په فارسي یې "کسی را بر جنگ تیز کردن" معنا لیکلې ده[121] بیهقي لیکي:

"أندیشد این بادشاه که ما بتر سیدیم و بگریختیم، و دم مابگیرد، وبنامه ولایت داران رابرما "برآغالانیدن" گیرد، و ناچار دوست برما دشمن شود".

بل ځای وایي: که بنده بورتگین را برین قوم "آغالید" و اوبخواهد آمد".[122]

نو په دې پښتو بیت کښي هم "کښه تور به براغلوم" داسي معنا کوي: لښکر بَه وګمارم او فوځ به پاځوم، یعني زه به ستا په مرسته خپل لښکر درولېږم.

په پټه خزانه کښي د امیر کروړ یوشعر دی، چي په هغه کښي "په ژوبله یو نم "یرغلم" پر تښتېدونو باندي" راغلي دي[123] هلته ما دا کلمه پرغالم لوستې وه، ځکه چي د

[120] لغت فرس، ص ۳۲۵.
[121] برهان قاطع، ج۱.
[122] تاریخ بیهقي ۲ص ۷۵۲-۸۰۵.
[123] پټه خزانه، ص ۳۳.



Digital Library



خوشحال خان او نورو متوسطینو په اشعارو کښي پرغلل او یرغال هم د حملې په مفهوم موجود وو، مګر ښایي چي د امیر کروړ دغه "یرغالم" هم برغالم وي، د برغلل له لازمي مصدره، چي دغه قدیمه ریښه لري، او امیر کروړ هم د دغو "لویکانو" د زمانې پاچا دی، چي د دوی د سلطنت غربي خواته پر غور او زور او بادغیس حکمران و، او د ژبي نژدېوالی یې ضروري دی.

۹. بلوم؟ د بیت د هجائي تقطیع څخه باید دا کلمه دوې هجاوي وګڼو (به - لوم) مګر ما چي هر څه فکر او مطالعه وکړه، د دغي کلیمې کوم معقول حل مي ونه موند. او داسي کلمه چي معنا یې له موقع سره ونښلي او منطقي هم وي، ما نه کړه پیدا ځکه دا کلمه دغسي پټه او ناحل سوې پاته سوه.

۱۰. مملا: دا کلمه ظاهراً نهي ده (مه مله) یعني ملتیا مه کوه ځکه چي وروسته هم د بیت په پای کښي (ملا) راغلې ده، مل تر اوسه په پښتو: ممد. معاون او رفیق ته وایي، ملتیا. ملتوب تعاون او رفاقت او همراهي ده، شیخ اسد سوري د پښتو یو قدیم شاعر (۴۲۵هـ) وایي:

نه به لاس واخلي له څوره نه به لورې
نه به ملا کړي له بې وزلو له ترار[124]

[124] پټه خزانه، ص ۴۱-۲۳۴.

…he Digital Library



ملکيار غرشين (۵۷۱هـ) وايي:

**غازيانو راشئ - تول شاوخواشئ - د شهاب په ملاشئ،**[۱۲۵]

کله (ملي) د پاتېدو او اقامت او باقي بودن په معنا هم راغلي دي، عبدالقادرخان ختټک وايي:

**اې يوه خدايه! ژر وران د دنيا سرای کړې!**
**چې اشنا عالم ترې ځي، نااشناملي**

بل ځای وايي:

**ناپوهان به يې باور په ودانۍ کا**
**چې په طمع د سيلاب د اوبو ملي**[۱۲۶]

نو ښايي چي دلته هم (مه مله) يعني مه پاتېږه، دوام مه کوه، وي.

اما د کليمې آخرنی الف د (هـ) پر ځای، اوس هم د غلجو او وردګو او اپرېدو په لهجو کښې سته، مه کوا، مه خورا، مه ځا، وايي.

۱۲. تيزيو؟ دا کلمه د هجايي تقطيع لپاره بايد (تي-ز-يو) ولوستله شي، ګمان کوم چي دا هم د ږغيزو توريو د اوښتلو د سيستم په اثر له (تازيو) څخه (تيزيو) شوې ده.

[۱۲۵] پښتانه شعراء ج ۱ص ۵۶ د حبيبي طبع کندهار

[۱۲۶] وګورئ د عبدالقادرخان ديوان، د حبيبي طبع کندهار.





تازي له قديمه عربي ژبي او عربي قوم ته ويل کېده، په اوسنی محاوره بايد ووايو، (مه مله د تازيو په ملا) يعني مه ځه يا مه پاتېږه د تازيو او عربو په ملګري کښې.

ځکه چي د غزني لويك خانان، جبراً مسلمان سوي وو نو يوه بل "لويك" له کابله ده ته په دې بيت کښې وکښل چي: "های، افسوس! لويك بت د غزني په مځکه کښې ښخ سو، او لويانو خپله لويي بايلو ده، زه به لښکر درواستوم، ته د تازيانو (عربو) ملګري مه کوه".

تازي چي پښتانه مسيد او وزير به يې حتماً (تيزي) وايي، د عربي اقوامو لپاره قديم نوم دی، چي په پهلوي او فارسي کښې هم مستعمل و، فردوسي په شاهنامه کښې د عربو او سعد وقاص د حملې پر وخت، دغه کلمه د مطلق عرب په معنا استعمالوي مثلاً:

| | |
|---|---|
| که تخت ونه ديهيم بيني نه شهر | ګزاختر همه "تازيان" راست بهر |
| از ايرانيان وازترک وز"تازيان" | نژادي پديد آيد اندر ميان |
| نه دهقان، نه ترک ونه "تازي" بود | سخنها بکردار بازي بود |

بيا وروسته تازي عربي ژبه هم بولي:

"بتازي" يکي نامه پاسخ نوشت — پديد آوريد اندر وخوب وزشت[۱۲۷]

[۱۲۷] شاهنامه ج۵ تر، ص ۳۰۲ وروسته.

he Digital Library



اکثره محققان وايي: چي دغه تازي نوم له (طائی) څخه اخيستل سوی دی، ځکه چي د بنوطي قبيله ايرانيانو ته ډېره نژدې او ورځرمه عربي قبيله وه، نو ټول عرب يې په دغه نامه وبلل.[۱۲۸]

دا چي يو ملت د يوې قبيلې په نامه وبلل شي، په تاريخ کښي نور مثالونه هم لري، لکه يونان د يوې قبيلې يونيا په نامه، يا فرس (د عربو ايران) د پرسه قبيلې په نامه چي يونانيانو (پرسيا) وباله، او بيا (پرشيا) سو.[۱۲۹]

او بل مثال يې دا دی: چي په دغه حکايت کښي د پښتنو ژبه يوازې د غلجو په نامه "لسان خلجيه" بلله شوې ده، او دا د کل تسميه په جز ګڼله شي.

دا "تازي" نوم د عربو لپاره ډېر قديم دی، حتی چينيانو هم د ټانګ د کورنۍ په سلطنت کښي (۶۱۸-۹۰۷ع) پخپلو کتابو کښي دا نوم تا - شي Ta-Shi ذکر کړی دی، چي په ۹۶۰ع د تا - شي Ta-Shi اميرالمومنين له خوا شل سفيران د چين د سنګ Sung شاهانو ته راغلل، او د ليو - شي Liao-Shi چيني امپراطور حضور ته هم يو تلشي (تازي) سفير راغی.[۱۳۰]

(۱۲۸) باتولډ په اسلامي انسايکلو پيډيا کښي ج۲، د تاجيک آرټيکل.
(۱۲۹) د شاهنامې فرهنګ، ص۸۴.
(۱۳۰) په چيني کتابو کښي د مينځنو پيړيو پلټني، د پترچ ميدر تاليفو د لندن طبع ۱۸۸۷ع، ج۱ ص ۲۶۶.





# نتائج

اوس چي تاسو د ۱۴۰۰ کاله پخوا ځني د پښتو ليکونه او اسناد او د لويکانو يو پښتو بيت ټکي په ټکي د لغوي او تاريخي تحليل سره ولوست، نو به د دې څېړني ادبي او لساني تاريخي نتائج لنډ لنډ وليکم.

۱. لويکان، يوه شاهي کورنۍ وه په زابلستان او غزني کښي چي د کابلشاهانو سره يې خپلوي لرله، د دوی نوم له پښتو (لوی) څخه جوړ شوی دی او ژبه يې پښتو وه، او قديمتر "لويك" وجوير (هجوير) نومېد د (۱۲۰هـ) حدود.

۲. دغه يو بيت د لويکانو د ژبي نمونه پاته ده.

۳. د دوی د ژبي لهجوي سيستم د وردګو او مسيدو او وزيرو اوسنی ادا ته ورته و.

۴. دوی بتان درلوده، خو وروسته مسلمانان سول.

۵. د دوی جګړې له صفاريانو او غزنويانو سره څو قرنه جاري وې.

۶. د دوی نژادي تقارب له غلجيانو (خلجيانو) سره ښکاري، ځکه چي ژبه يې هم "لسان خلجيه" بللې شوې ده.

۷. د غزني قديم نوم (ګزنه) لکه په سغدي او فارسي کښي چي رېښې لري، په پښتو کښي هم (ګزنه) و.

e Digital Library



۸. د پښتـو د یوه قـدیم نظـم ویـونکی (لویـك) چـي د خانـان لویك او خنچل کابلشـاه معاصـر و پـه (۱۶۳هـ) کښـي بـه ژونـدی و، نـو دی هـم لکـه امیرکـروړ سـوري، د پښتـو قدیم شاعر او د هغه معاصر و.

۹. د لویکـانو کورنـۍ د سـبکتګین پـه لاس ختمـه سـوه (۳۶۵هـ).

۱۰. پښتو په دغو اوقاتو (۲۰۰هـ حدود) په شرقي خوا کښـي پهلوي ته نژدې وه، چي په دې بیت کښي د زمـي، ګزنـه، براغلـوم او تـازي کلمـات لـه سـغدي او پهلـوي سـره نژدېوالي او اشتراك لري، خو په دغه عصر کښـي چـي د امیرکـروړ شـعر هـم موجـود دی، لـه دغـو اغېـزو څخـه سپېڅلی دی، نو داسي ښکاري، چـي د امیرکـروړ ژبـه د غور په غـرو کښـي لـه دغـو پـردو اغېـزو څخـه لیـري پاتـه وه، د زابـل او غزنـي پرخـوا د ساسـاني دورې ثقافـت او ژبـي اثرونـه کـړي وو، او ځکـه چـي دا غرونـه او رغونـه د هند سیاسي او تجارتي لار وه، او د ایران او ماوراء النهر او عربـو خلکـو تـګ او راتـګ دلتـه ډېـر و، نـو د دوی تقافتي او ژبني اثرونه هم یوه طبیعي خبره ده.

۱۱. په مسیحي لومړیو پېړیو کښي چي سپین "هون" (آریایي اقوام) د تخارستان له خوا زابلسـتان تـه راغلـل، لـه دوی څخه هفتالیـان (ابدالیان) د ارغنداو او هلمند پـه نـاوو او





غرو او رغوکښي تر کوړکه له پخوانو پښتنو سره ګډ او میشته شول، چي اوس د ابـدالي (دراني) پـه نامـه کښـي هغـه قدیمـه ریښـه سـته، او بلـه ډلـه د غلجـي، خلجـي، غرڅي) پـه نامـه لـه محلي پښتنو سره ګډ سول،[۱۳۱] د دغـو خلکـو ژبـه دمخـه هـر څـه چـي وه، خـو دلتـه پـه زابلستـان کښي له غزني څخه تر سیستـانه پښتو سوه، او د دوی ګډون له پخوانو پښتنو سره په دغـه ژبـه کښـي ځیني قدیم ترکي کلمات ګډل کړل: لکه هون چـي "خـان" سو، یا اولس، "جرګه" "یرغل" او نور.

خو کوم وخت چي پر دغـو هونـانو (خانـانو) د اسلامي فتوحاتو یرغلونـه راغلـل، نو دوی غرو تـه وخاتـه، او د دوی لهجـه او ادا پـه غرو کښي پاته سوه، لکه د وردګو او وزیرو او مسیدو لهجې.

اما هغه اقوام چي په سیمو کښي وو، د دوی پر لهجو د سیمي د خلکو او مدنیت او ژبو اثر وسو، او تهذیب یې ومونـد، چي اوسنیو ابدالیو لهجه یې نمونه ده.

---

[۱۳۱] ځینو لیکوالو پښتانه دهون لـه نسـله ګڼلي دي، مګر دا خبره تـاریخي اصالت نـه لـري، ځکـه مـوږ د هـون تـر زمـانې ډېـر دمخـه پـه ریګویـدا او د هـرډوټ پـه تـاریخ کښي د پکهت او پکتویس ذکر د آمو او اباسین تـر منـځ، سیمو کښـي وینـو، او دا ثابتـه ده، چـي پښـت = پښتانـه درې، څلـور زره کالـه مخکـي هـم پـه پښتونخـوا (د هیرډوټ پکتي ایکا) کښي اوسېدل، خو هغه وخت چي پـه عیسـوي لومړیـو پېړیـو کښـي سـپین هونـان (خانـان) پښتونخـوا تـه راغلـل، نـو دوی پـه دې سـیمو کښـي د پښتنو سره ګډ، او پښتـانه سول او ژبه یې هم پښتو سوه.

# د لویکانو تاریخي ښکارندوی

لویـك وجـویر (هجـویر، وجیـر) د رتبیـل او کابلشـاه پـه خدمت (کرامات) د ۱۲۰ هـ حدود، لویك خانان د وجویر زوی (د گردیزي: خاقان) مسلمان او بیا مرتد شوی لویك، چي د خنچل کابلشاه معاصر و (د دوی معاصر یو بل لویك، د پښتو بیت ویونکی) د ۱۶۳ هـ حدود محمد بن خاقان (گردیزی) د ده نوم اسلامي او هم مسلمان و، د ۲۱۰ هـ حدود، افلخ د محمد زوی (د گردیزي ابومنصور افلح) د یعقوب لیث څخه په گردیز کښې مات سو ۲۵۶ هـ.

ابوعلي (ابوبکر) لاویك (طبقات ناصري) یا مطلق لویك (سیاست نامه) د کابلشاه د زوی خسر، چي د سبکتگین لـه لاسه یې په چرخ کښې د خپل زوم (د کابل شاه زوی) سره ماته وکړه ۵۶۳ هـ.

پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**